# د اسلام لومړنی خلیفه،

## جلیل القدر صحابي،

## ابوبکر صدیق رضي الله عنه

# مبارک سیرت

د خپرولو شمیره: .......... (۱)


Ketabton.com

لیکوال : حبل الله ( المتین)

کال : ۱۳۹۸ لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library






## کتاب پېژندنه:


نوم : -------------- د ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) سیرت.

لیکوال او راټولوونکی: ----- حبل الله (المتین).

ژباړن : -------------- خپله لیکوال.

ټایپ : -------------- حبل الله (المتین)

ډیزاین او PDF : --------- N. RASOOLI

کال: --------------- ۱۳۹۸ هجري لمریز

د خپرولو شمیره: --------- (۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فهرست

عنوان: ........ صفحه
د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د سیرت لمړئ برخه: ........ (۱)
د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه اسلام: ........ (۱)
د عبدالله بن عثمان یا ابوبکر رضي الله عنه د سیرت مبارک دوهمه برخه: ........ (۲)
د أبوبکر الصدیق القاب: ........ (۲)
اول لقب صدیق: ........ (۲)
د ابوبکر رضي الله عنه دوهم لقب: ........ (۳)
د أبوبکر الصدیق رضي الله عنه د سیرت مبارک دریمه برخه: ........ (۴)
د ابوبکر رضي الله عنه دریم لقب عتیق دی: ........ (۴)
د ابوبکر الصدیق رضي الله عنه د سیرت مبارک څلورمه برخه: ........ (۵)
د ابوبکر رضي الله تجارت: ........ (۵)
د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د سیرت مبارک (۵) برخه: ........ (۷)
ابوبکر الصدیق رضي الله عنه د سیرت مبارک شپږمه برخه: ........ (۹)
د رسالت اولني قبلوونکې اوه کسان: ........ (۹)
د ابوبکرالصدیق رضي الله عنه د سیرت مبارک (۷) برخه: ........ (۱۱)
د أبوبکرالصدیق رضي الله عنه د سیرت مبارک (۸)برخه: ........ (۱۲)
د أبوبکر بن ابو قحافۀ رضي الله عنهما د سیرت مبارک (۹) برخه: ........ (۱۳)
د أبوبکر بن ابو قحافۀ رضي الله عنه د سیرت مبارک (۱۰) برخه: ........(۱۵)
د أبوبکر بن ابو قحافۀ رضي الله عنه د سیرت مبارک (۱۱) برخه: ........ (۱۷)
د ابوبکر رضي الله عنه د سیرت مبارک (۱۲) برخه: ........(۱۹)
د أبوبکر رضي الله عنه د سیرت مبارک (۱۴) دیارلسمه برخه: ........(۲۰)
د ابوبکر رضي الله عنه د خلافت موضوع: ........(۲۰)
د أبوبکر رضي الله عنه د سیرت مبارک (۱۴) برخه: ........ (۲۲)
د أبوبکر رضي الله عنه د سیرت مبارک پنځلسم برخه: ........ (۲۲)
د ارتداد مهمه برخه: ........ (۲۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د سیرت (۱) برخه.

**د ابوبکر صدیق رضي الله عنه اسلام:**

ابوبکر رضي الله عنه، اصلي نوم عبدالله، د پلار نوم ئې قحافه او د مور نوم ئې أم خیرۀ.

ابوبکر رضي الله عنه له وړوکتوب څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دوست ؤ؛ ډیر زیات غیرتمند، امانتدار، بهادر او رحم دله انسان وؤ، د تجارت کاروبار ئې کولو او نسب ئې هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره څو پښته بعد یو ځای شوی دی، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په نبوت مبعوث شو نو اولنی دعوت ئې په نارینوؤ کې ابوبکر رضي الله عنه ته ورکړ، بې له تردیده ئې قبول کړ، او د اولني مسلمان اعزاز ئې حاصل کړ، کله چې د مسلمانانو تعداد ۳۹ تنو ته ورسید، نو ابوبکر رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وفرمائل، چې غواړم خپل اسلام د خلکو مننځ کې اعلان کړم، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړ، چې څوک دې د دفاع طاقت نه لري تکلیف به د رته ورسیږي، خو ابوبکر رضي الله عنه بیا بیا اسرار کولو، چې اخیر رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اجازه ورکړه او بیت الله شریف ته ئې تشریف یوړ او هلته ډیر زیات مشرکین ناست وه او ابوبکر رضي الله عنه ورته خطبه شروع کړه دا په اسلام کې اولنۍ خطبه وه، مشرکینو اول سر کې ورته ښه په غور غوږ نیولی ؤ، خو چې کله ابوبکر رضي الله عنه د اسلام را وړلو اعلان وکړ؛ نو عتبه ابن ربیعه چې د قریشو سردار ؤ د وهلو امر یې ورکړ؛ نو مشرکین لکه د کارغانو په شان ور باندې را ټول شول او ډیر زیات ئې وواهه تر څو چې بې هوښه شو نو هغوئ پریښود، دې وخت کې د ابوبکر رضي الله عنه قوم بنو تمیم خبر شول او هغوئ پورته کړ او خپل کور ته ئې ورسولو، کله چې د ده قوم د ده تشویش ناک حالت ولید او یقین ئې راغی چې د بچ کېدلو نه دی نو بیت الله شریف ته راغلل او اعلان ئې وکړ، که چیرې ابوبکر (رض) وفات شو مونږ به ئې بدله کې عتبة ابن ربیعه قتلوو (وژنو) څو وخته ئې همدا اعلان وکړ، خو چا جواب ورنه کړ، بیرته د ابوبکر رضي الله عنه کور ته راغلل چې د ده حالت وګوري، نو دې وخت کې ابوبکر رضي الله عنه لږ هوښ کې راغی نو اولنۍ پوښتنه ئې دا وه چې:

رسول الله صلی الله علیه وسلم څنګه دی؟

کله چې ئې قوم دا خبره وا وریده نو له ډیري غصې پورته شول او ولاړل فقط دومره ئې د ده والدې ته وویل: ده ته د خوراک بندوبست وکړه، کله چې هغوئ ولاړل نو مور ئې ورته د خوړلو له پاره څه راوړل خو ده ئې له خوړلو انکار وکړ او مور ته ئې وویل: ما ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم معلومات راوړه، مور ئې ورته وویل: زه څه خبره یم چې چیرې او څنګه دی؟ ابوبکر رضي الله عنه ورته وفرمائل: چې د عمر رضی الله عنه خور أم جمیل کره ورشه له هغې څخه پوښتنه وکړه، مور ئې د شپې أخیره برخه کې چې لاړې او کوڅې له خلکو خالي شوې وې هلته ولاړله او ورته وئې وویل: ابوبکر رضي الله عنه د رسول الله صلي الله علیه وسلم معلومات غواړي، هغې ورته وویل: زه څه خبره یم چې هغه به چیرې او څنګه وي؟ خو که ماته اجازه وي زه به د ابوبکر رضي الله عنه لیدلو ته در سره ولاړه شم هغې دا خبره خوښه کړه او کور ته ئې له ځان سره را وستله، ابوبکر رضي الله عنه ترې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



أم جمیل ئې د مور طرف ته په سر اشاره وکړه چې مور دې أوري هغه مسلمانه نه ده ! ابوبکر رضي الله عنه ورته وویل: له هغې مه ډاریږه نو أم جمیل ورته وفرمائل: هغه د أرقم په کور کې له نورو مسلمانانو سره دی ! نو ابوبکر رضي الله عنه قسم وکړ، چې تر هغې به هیڅ خوراک څښاک ونه کړم چې لیدلی مې نه وي، نو د ابوبکر رضي الله عنه مور بلې شپې ته انتظار وکړ، تر څو لارې او کوڅې له خلکو خالي شوې، نو ابوبکر رضي الله عنه ئې له لاسه ونیو او د أرقم رضي الله عنه کور ته ئې بوتلو، نو سمدستي ئې رسول الله صلی الله علیه وسلم غیږ کې ونیولو او دواړو ډیر زیات وژړل او ور سره ټولو نارینه او زنانه صحابو هم وژړل، نو له دې وروسته ابوبکر رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وفرمایل:

یا رسول الله صلی الله علیه وسلم زما مور شریفې ته دعا وکړه چې مسلمانه شي !

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اول دعا وکړه بیا ئې دعوت ورکړ، چې هغې دعوت قبول کړ او مسلمانه شوه.

◊◊◊◊◊

## د عبدالله بن عثمان یا ابوبکر صدیق رضي الله عنه د سیرت مبارک (۲) برخه.

**د أبوبکر الصدیق القاب.**

**اول لقب صدیق**، کل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم، معراج نه بیرته تشریف راوړ او خلکو ته ئې اظهار وکړ، بعضي کسان ابوبکر رضي الله عنه ته ورغلل چې ستاسې ملګری خو وائې چې زه اسمانونو ته ختلی وم، عجیبه نه ده یوه شپه کې تلل او راتلل؟

نو ابوبکر رضي الله عنه ورته وفرمایل: که هغه داسې ویلي وي زه یې تصدیق کوم چې رښتیا دي، نو له دې وروسته په صدیق مشهور شو بله وجه یې داده.

☜ انس رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابؤ (رضي الله عنهم) سره احد غره ته وختلو ابوبکر رضي الله عنه، عثمان رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه ور سره وو، غر په خوځیدو (ښوریدو) شو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل، ودریږه تا باندې نبي صلی الله علیه وسلم، صدیق رضي الله عنه او شهیدان ولاړ دي یعنې دغه درې واړه یې یاد کړل.

د دې لقب بل دلیل.

☜ عبد الله ابن عمر رضي الله عنه فرمایي، چې موږ د یرموک غزوه وګټله نو مونږ هلته دا اهل کتابو کتابونه وموندل چې هغه کې یې د اخیري نبي صلی الله علیه وسلم سره د هغه ملګري نوم صدیق لیکلی ؤ.

د صدیق د نوم عموما بل فضیلت.

په قرآن کریم کې نبیانو پسې صدیقین ذکر شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ابوبکر رضي الله عنه دوهم لقب.**

صاحب: یعنې ملګری

د سورت التوبة ۴۰ آیات کې الله جل جلاله ورته صاحب ذکر کړی دی.

دا لقب به رسول الله صلی الله علیهه وسلم هم ډیر ذکر کولو.

☜ طلحه بن عمر رضي الله عنه فرمايي: چې مونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خوراک د نشتوالي شکایت وکړ!

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وفرمایل: په ما او ملګري مې تقریبا اتلس ورځې داسې راغلي چې غیر د تورشې میوې څخه بل خوراک مو نه دی موندلی.

د صاحب یعنې ملګري د لقب بل دلیل.

ابوهریه رضي الله عنه فرمايي: چې یو وار د ابوبکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه تر منځ لفظي شخړه راغله او ابوبکر رضي الله عنه ورته کومه خبره وکړه خو بیا پښېمانه شو او معافي یې ترې وغوښته خو عمر رضي الله عنه ورته وویل، نه دی معاف کوم نو مونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وؤ

چې ابوبکر رضي الله عنه لنګ تر پنډیو را پورته کړ او په منډه را روان دی.

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائل: ستاسې ملګري چا سره شخړه کړې ده.

نو چې کله راورسید ویې ویل:

یارسول الله صلی الله علیه وسلم ما سره عمر رضي الله عنه لفظي شخړه وکړه بیا ما ترې معافي وغوښته خو هغه معاف نه کړم، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل، الله جل جلاله دې معاف کړه، دې وخت کې عمر رضي الله عنه پښېمانه شو او د معافۍ غوښتلو له پاره د ابوبکر رضي الله عنه کور ته ورغې هغوی ورته وویل: هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دی، نو په منډه راغی ، نو کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ولید مخ مبارک یې له غصې لکه انار سور شو.

کله چې عمر رضي الله عنه را ورسید ، نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم مخې ته یې ګونډې ولګولې او ویې ویل:

یارسول الله قسم په خدای جل جلاله زه په غلطه وم، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دوه واري وویل: تاسو زما ملګری ولې خفه کوئ تاسې زه شړلم ده ځای را کړ، تاسې وهلم، ده مې دفاع کوله، تاسې ولې ترې نه غلي کیږئ؟

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم دواړه سره پخلا کړل.

له دې نه د ابوبکر رضي الله عنه د دوه القابو ثبوت او لوړ مقام ثابت شو، بل د یو بل د معاف کولو له پاره ترغیب دی که بل هم په غلطه وي معافي ترې وغواړي.

د ابوبکر رضي الله عنه د حبشې د سفر په نیت وتل او نورې مهمې زړه را ښکونکې پېښې هم راتلونکې دي•.

◊◊◊◊◊

• سیرت ابن هشام جلد اول باب خلفاءالراشدین

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د أبوبکر صدیق رضي الله عنه د سیرت مبارک (۳) برخه.

**د ابوبکر صدیق رضي الله عنه دریم لقب عتیق دی.**

د ابوبکر رضي الله عنه یو نوم د جاهلیت په زمانه کې هم عتیق ؤ خلکو به د ده د ډیرو خوبیانو په وجه ورته دا نوم اخست، هغوی تري دا معنی اخیسته چې مخ یې د شرم او عار نه په آمان دی، خو بیا په اسلام کې هم ورته همدا نوم آخستل کیده.

☜ د عبدالله ابن زبیر رضي الله عنه نه روایت دی: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به ورته عتیق وایه.

☜ د عایشې رضي الله عنها نه روایت دی: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابو سره زما د کور په انګړ کې ناست ؤ او زه د ننه وم زما پلار تشریف راوړ، کله چې را ښکاره شو؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که تاسې غواړئ دا سې نفر وګورئ چې د دوزخ نه ازاد وي، نو ابوبکر رضي الله عنه دی، د عتیق کلمه یې ورته واخسته.

☜ حبیشه رضي الله عنه فرمایي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به ابوبکر رضي الله عنه ته ویل: چې د عتیق او صدیق نوم الله جل جلاله در ته غوره کړی دی.

کله چې ابوبکر رضي الله عنه د کفارو د وهلو نه لږ روغ شو بیا به بیت الله شریف ته تللو او هلته به یې عبادت کولو، خو د ده د تلاوت او لمونځ کې دومره خوږوالی ؤ او ژړل به یې چې د مشرکینو نارینه او ښځې به ورته ودریدل او فکر به ورته وړي وو، چې دا دین حقیقي دین دی، خو د مشرانو له ویرې به چپ وو، خو مشرکینو به ځوانانو ته ویل: چې مه یې پریږدئ چې عبادت وکړي نو هماغه ؤ چې ابوبکر رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: زه له دی وطن بل ځای ته ځم دلته له عبادت خوندونه نه شم اخستی او رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته حبشې ته د تللو اجازه ورکړه، نو په همدی نیت له کوره ووتلو، لاره کې یو قوم باندې تیریده چې (برک غماد) علاقه وه د هغه قوم مشر ابن الدغنة ورته په مخه ورغی، او اواز یې ور باندې وکړ: ابوبکر (رضي الله عنه) چیرته پخیر؟

ابوبکر رضي الله عنه ورته په غمجن اواز باندی وویل: خپل قوم له مکې را وشړلم.

ابن الدغنة وویل: ستا قوم هغه څوک را شړي چې د غریب سره مرسته کوي؟

کونډې او یتیمان پالي، مظلوم له ظالم ژغوري، درواغ نه وایي، د ښه نسب خاوند دی، نه دا نه شي کیدای راځه بیرته واپس شه زه امن درکوم او له لاس یې ونیولو، بیرته مکې ته راغلل. لومړی ابن الدغنة بیت الله شریف کې اعلان وکړ: چې ما ابوبکر رضي الله عنه په امن کړی، بیا د مکې د سرسختو مشرکینو په کورونو وګرځیدو، ټول یې خبر کړل چې که هر چا ابوبکر رضي الله عنه ته نقصان ورسولو خیر یې نشته، ټولو د هغه خبره ومنله خو یو شرط یې کیښود چې حرم شریف کې به عبادت نه کوي کور کې به خپل لمونځ او تلاوت کوي، نو ابن الدغنة ابوبکر رضي الله عنه ته وویل، همدا سې وکړه نو ابوبکر رضي الله عنه د خپل کور په ساحه کې وړوکی مسجد ځان ته جوړ کړ، هلته به یې عبادت کولو، خو دومره ښکلي اواز باندې به یې تلاوت کولو چې ډیر مشرکین به یې لیدو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودریدل او ویل به یې: والله چې دغه دین حق دی؛ خو له ویرې یې اظهار نه شو کولای، اخیر مشرکینو ته دا کار سخت تمام شو چې که همدا اسې ډلې ډلې خلک د ده تلاوت اوریدو ته ودریږي؛ نو شاید ټول اسلام قبول کړي، نو ابن الدغنة ته ورغلل چې ته ورته ووایه چې یو چیرې پټ ځای کې عبادت وکړي نژدې ده چې د ټولې مکې خلک خراب کړي زمونږ خلکو خپل کارونه پریښي دي د ده لیدلو ته ولاړ وي، نو ابن الدغنة راغی ورته یې وویل: یا ابوبکره (رضي الله عنه) یا خو ته خپل عبادت چیرته پټ کوه یا زه درنه خپل امن بیرته اخلم چې دوی هر کار در سره وکړ، نو کوي به یې.

ابوبکر رضي الله عنه ورته وفرمایل، ته دی خپل امن بیرته واخله زه فقط د خپل رب جل جلاله نه امن غواړم زه عبادت نه شم پرېښودای، نو هغه ترې خپل امن بیرته وخست او ابوبکر رضي الله عنه بیا تکلیفونه ګالل په ځان ومنل.

ابوبکر رضي الله عنه فرمايي: ما جاهلیت کې هم شراب نه دي چښلي، د بتانو عبادت مې نه دی کړی، زنا، سود او دوکه مي نه ده کړې ، درواغ مې نه دي ویلي.

فرمایي: چې یو ورځ د جاهلیت په وخت کې پلار راته وویل: چې فلاني بتخانې ته مې ورسوه، هغه رونډ ؤ ما ډیرې بهانې ورته وکړې؛ خو هغه مجبور کړم کله چې مې بوتلو نو هغه په خپل کار مشغول شو زه یو غټ بت ته ورغلم ورته مې وویل، وږی یم د خوراک له پاره کوم څه راکړه خو جواب یې را نه کړ، بیا مې ترې جامې وغوښتلې چې جواب یې را نه کړ، نو یوه غټه تیږه (ډبره) باندې مې په دې مخ وویشتلو او بل (پړ) مخ راپریوتلو ، نو فرمایي ما چې د شام د تجارت سفر کې کوم خوب لیدلی ؤ ډیر په بې صبرئ سره د هغه رښتیا کیدو ته په تمه وم.

د شام سفر او د اسې نورې زړه راښکونکې پیښې مه هیروئ.

◊◊◊◊◊

## د ابوبکرصدیق رضي الله عنه د سیرت مبارک (۴) برخه.

### د ابوبکر صدیق رضي الله تجارت

☜ ابوبکر رضي الله عنه د اسلام نه وړاندې هم تجارت کولو د بعثت په کال د تجارت له پاره شام ته تللی وو، هلته یې خوب ولید ، چې سپوږمۍ له خپل ځایه را روانه شوه او ټوټه ټوټه شوه او د مکې والا په کورونو باندې را پریوته او ټوټې یې بیرته سره یو ځای شوې او بیرته خپل مکان ته ولاړه، خو یوه برخه چې د ده په کور را پریوتې وه پاتې شوه نو د خوبه را پورته شو او زیات تشویش کې شو، چې کومه پیښه نه وي شوې او زما کور ته کوم نقصان ونه رسیږي، همدې حالت کې هغه راهب یا د یهودو عالم ور په یاد شو چې هلته ؤ په بیړه هغه ته ورغی او خوب یې ورته تیر کړ، د خوب په اوریدلو سره د راهب مخ باندې د زیاتې خوشحالئ اثرات را ښکاره شول او ورته یې وویل: ته له کوم ځایه راغلی یې؟

ابوبکر رضي الله عنه ورته وویل: له مکې څخه !

راهب په نسب څوک یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابوبکر رضي الله عنه وویل: بنو عبد مناف !

راهب په قوم څوک یې؟

ابوبکر رضي الله عنه قریش !

راهب ورته وویل: تاسو کې اخیري رسول صلی الله علیه وسلم، همدا اوس مبعوث کیدونکی دی او هغه سپوږمۍ همدا ده او ته به یې وزیر یې پام کوه د هغه ملگرتیا کې سستي ونه کړې !

کومه ټکره چې ستا کور کې پاتې شوې ده، هغه اسلام دی، پس له دې ابوبکر رضي الله عنه خپل سفر را لنډ کړ او په ډېره ناقرارئ را روان شو او دی (رضي الله عنه) سوچونو (فکرونو) اخستی وو، دا نبي صلی الله علیه وسلم به څوک وي؟ کوم سردار به وي؟

نه نه سردار یا قومي مشر نه شي کیدای، هغوئ خو د بتانو عبادت کوي، سلگونه کلونه یې یو تر بل دښمنئ تازه ساتلې، دا سې خلک د الله جل جلاله رسول نه شي کیدای هغوئ خو لورگانې (لوڼې) ژوندئ ښخوي، مالدار یې په غریب ظلمونه کوي، درواغ وایې شراب خواره دي، نه نه دا سې خلک نبي صلی الله علیه وسلم کیدای نه شي بیا یې فکر وکړ، چې په ځوانانو کې به نبي پیدا شي؟

خو ځوانانو کې به داسې وړ شخص کوم یو وي؟

همدې فکرونو کې د مکې اطرافو ته را ورسید او داسې یې محسوس کړل چې ضرور کومه پیښه شوې ده، ایا کوم مشر به مړ شوی وي؟ ټول خلک پریشانه ښکاري یا ربه خیر کړې، تر ټولو لومړی ابو جهل ملعون مخ ته ورمنډه کړه ورته یې وویل: عتیقة خبر نه یې؟

ابوبکر رضي الله عنه له څه شي نه؟

ابو جهل ! هغه ستا د وړوکوالي یتیم ملگري، خو نوې نوې خبرې شروع کړي،

ابوبکر رضي الله عنه کوم یو یادوې؟ ژر کوه خبره خلاصوه:

ابو جهل ملعون هغه د عبدالله زوی یادوم !

یو دم د ابوبکر رضي الله عنه هغه خوب را یاد شو.

ابوبکر رضي الله عنه وایه څه یې ویلي دي؟ ابو جهل ! هغه وایې ماته جبرائیل (ع) وحې راوړې ده تاسو ته نبي صلی الله علیه وسلم را لیږل شوی یم:

ابوبکر رضي الله عنه نو تا له هغه شخه په دې څلویښتو کلونو کې کوم درواغ خبره اوریدلې؟

ایا مونږ کې په آمین مشهور نه دی؟

ابو جهل: هو آمین خو دی خو داسې نا اشنا خبرې کوي وایې د بتانو عبادت پریږدئ نو مونږ دا کار کولای شو؟

ابوبکر رضي الله عنه ښه مخه مې پریږده چې کور ته ولاړ شم.

ابو جهل: نو ته پکې څه وایې؟

ابوبکر رضي الله عنه: پریږده چې کور ته ولاړ شم•.

---

•حکایة الصحابة جلد اول، سیرت ابن هشام جلد دوهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د سیرت مبارک (۵) برخه.

ابوبکر رضي الله عنه چې کله له ابوجهل څخه رخصت شو نو خپله سورلۍ یې په ډیره تیزۍ سره خپل کور طرف ته روانه کړه د مکې ماشومانو مخکې ترینه منډې کړې او وړوکې عائشه رضي الله عنها او پیغله اسماء رضي الله عنها یې د پلار په راتګ خبرې کړې هغوئ دواړه ورته استقبال ته راوتلې وې، له خوشحالۍ په جامو کې نه ځایدې.

دې وخت کې ابوبکر رضي الله عنه ورته را ورسید، دواړه یې ښکل کړې او کور ته دننه شو، اسماء رضي الله عنها د سورلۍ مهار ونیولو، چې سامان ترې را کښته کړي او کوچنۍ عائشې رضي الله عنها چغې کړلې بابا بابا ته ته خبر یې؟

ابوبکر رضي الله عنه: له کوم شي لور جانې؟

عائشه رضي الله عنها هغه ستا ملګری یادوم! هغه آمین (یعنې امانتدار او رینښتونی) یادوم.

ابوبکر رضي الله عنه هو هو لورې زه خبر یم: ښه نو ته چا خبر کړلې؟

ابوبکر رضي الله عنه: هغه ابوجهل لعنتي خبر کړی یم.

دې وخت کې یې کورودانه (میرمن) ورته راغله سترې مه شې یې ورسره وکړه او سمدستي د والدینو طرف ته ورغی پلار یې نابینا ؤ د دواړو سره یې سترې مه شي وکړه او اسماء رضي الله عنها ته یې اواز وکړ، لورې ماته پاکې جامې او اوبه ژر تیارې کړه چې ولامبم یو چیرې روان یم بیړه (تلوار) مې دی.

اسماء رضي الله عنها: ښه پلاره دا دی اوس یې راوړم لږ صبر وکړه، بي بي أم رومان رضي الله عنها ورته وویل: ولې خیر خو دی؟ اوس راغلې لږ دمه شه، څه وخوره ولاړ به شې.

ابوبکر رضي الله عنه: نه نه زه خوراک نه کوم بیړه (تلوار) مې دی کومه خبره نه شته. هغه د بني هاشم اولاد ته ورځم چې آمین (محمد صلی الله علیه وسلم) وګورم اندیښنه مې ده، دې وخت کې اسماء رضي الله عنها اوبه او جامې راوړلې غسل یې وکړ او د کوره په تیزۍ سره راووتلو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم کور ته ورغی، یو خوا ته ودریدی اواز یې وکړ، ای د بنو هاشم خاندانه محمد صلی الله علیه وسلم کور کې شته؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم، چې ډیر خپه او پریشانه کور کې ناست ؤ ځکه د خپل کور فقط یو څو تنو نه، ماسوا چا یې دعوت نه ؤ منلی، نو د ابوبکر رضي الله عنه اواز باندې یې مخ لکه د ګلابو وغوړید، خپل غلام زید رضي الله عنه ته یې وویل: ماته د عتیق یعنې ابوبکر رضي الله عنه اواز ښکاري ورشه که ابوبکر رضي الله عنه وي دننه یې راوله.

زید رضي الله عنه چې کله ابوبکر رضي الله عنه را دننه کړ او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه نوراني مخ یې مسکی ولیدی خوشحالي یې نوره هم زیاته شوه سترې مه شي یې ور سره وکړه او ابوبکر رضي الله عنه مخامخ ورته کښیناست او ورته یې وویل: تر ټولو اول راته ستا د بعثت خبره وکړه چې ډیره مې ورته تلوسه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته قصه دا سې شروع کړه:

☜ چې زه به له خلکو پټ دغه مخامخ غره کې غار حراء ته تلم او هلته به مې عبادت کولو، خو دا وار مې چې عبادت شروع کړ، یوه ملائکه راته راغله او ماته یې وویل: ته الله جل جلاله خپل امت ته نبي را لیږلی یې ورشه هغوئ توحید ته راوبله او ماته یې وویل: چې ولوله ما ورته وویل: زه خو لوستل نه شم کولای امي یم، نو هغه زه غیږ کې ونیولم او بیا ئې راته وویل: چې ولوله دا وار یې راته سورت العلق تلاوت کړ، ما هم ولوست؛ بیا هغه را څخه ولاړه، زه کور ته راغلم ډار شوی وم خدیجې رضي الله عنها ته مې وویل: پټ مې کړه یخني مې کیږي او پوره قصه مې ورته وکړه. هغې تسلي راکړه او ورقه بن نوفل عالم ته ورغله هغه یې تره وه، هغه نه یې پوښتنه وکړه: هغه ورته ویلي وو، دا هم هغه ناموس یا ملائکه ده چې نورو انبیاؤ ته ورتلله او ورته ویلي یې وو، چې ستا خاوند نبي شوی دی خو کاش چې زما طاقت وای چې کومک مې ور سره کړی وای.

نو ابوبکر رضي الله عنه فرمايي: کله چې مې دغه خبرې واوریدلې سمدستي مې د شهادت کلمه وویله او ور پورته شوم د ده مبارک مخ، تندی او سترګی مې ښکل کړې او کلک مې غیږ کې ونیولو، بیا مې لاس باندې ور سره د کلکې همکارئ بیعت وکړ او له دې وروسته ما خپل خوب او شام د راهب تعبیر ورته وو ایه چې ډیر زیات ور باندې خوشحاله شو.

نو له دې وروسته رسول الله صلی الله علیه و سلم په ښکاره بیت الله شریف کې لمونځ کولو اراده وکړه.

☜ عمر ابن العاص رضي الله عنه فرمايي: چې ما د ابوبکر رضي الله عنه بهادري او همت هغه وخت ولید، چې رسول الله صلی الله علیه و سلم بیت الله شریف کې په لمونځ ودرید او د مشرکینو سرسخت مشر عقبة ابن معیط راغی او د رسول الله صلی الله علیه و سلم غاړه مبارکه کې یې څادر واچولو او په ډیره سختئ یې را کش کړ، هیچا د مشرکینو له ویرې همت نه شو کولای چې ترې خلاص یې کړي، خو ابوبکر رضي الله عنه په منډه ورغی او د عقبة ابن معیط ګردن ته یې لاس واچولو او دومره سخت ټک یې ورکړ، چې رسول الله صلی الله علیه و سلم یې ترې خلاص کړ او د مسلمانانو په بې وسئ یې په چغو چغو ژړل او دا سې یې ویل:

ای: ظالمانو محمد صلی الله علیه و سلم، کومه ګناه کړې ده؟ چې تاسې دومره ظلم ور باندې کوئ دا خو تاسو له دروا غو، دوکې، شرک او ظلم څخه منع کوي تاسو چې ژوندئ لورګانې (لونې) په مځکه کې ښخوئ له هغه مو منع کوي، دا خو تاسو نه مشرتوب، مال او دولت نه غواړي، ستاسې د لورګانو (لوڼو) نکاح ته په تمع نه دی، دا خو تاسې د جهالت نه روښنایې ته راولي، تاسو ته وایې چې یو له بله هغه د سلګونو کلونو دښمنئ ختمې کړئ، د بتانو عبادت پریږدئ چې نه خیر درته رسولای شي او نه شر، نو له دې وروسته یې رسول الله صلی الله علیه و سلم کور ته راوست.

☜ عمر ابن العاص رضي الله عنه فرمايي: زما تر ټولو بده خاطره همدا ده چې ما رسول الله صلی الله علیه و سلم د بچ کیدلو کوښښ ونه کړای شو.

راتلونکې کې د ابوبکر رضي الله عنه د بلال رضي الله عنه ازادول او نور په زړه پورې حالات را سره اوسئ.

◊◊◊◊◊

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ابوبکرصدیق رضي الله عنه د سیرت مبارک (۶) برخه.

**د رسالت اولني قبلوونکې اوه کسان:**

① ابوبکر رضي الله عنه

② عمار رضي الله عنه

③ مور یې سمیة رضي الله عنها

④ پلار یې یاسر رضي الله عنه

⑤ صهیب رضي الله عنه

⑥ بلال رضي الله عنه

⑦ او مقداد رضي الله عنه

ابوبکر رضي الله عنه فرمايي: زما قوم زه لږ له تکلیفونو څخه منع کولم او رسول الله صلی الله علیه وسلم، خپل تره ابو طالب ترینه دفاع کوله، خو د دغه نورو مدافعین او خپلوان نه وه، نو ځکه یې ډیر زیات تکلیفونه گالل کله چې بلال رضي الله عنه مسلمان شو، نو بلال رضي الله عنه د سرسخته کافر مشر امیة ابن خلف غلام ؤ هغه به ترې جامې وکښلې او بربنډه (لڅ) به په شا په سرو شگو کې واچولو او غټې غټې تیږې (ډبرې) به یې ور باندې کیښودلې، لاسونه به یې شاته ورتړلي وو او ماشومانو ته به یې ویل، له پاسه ورباندې گرځئ او ورته ویل به یې، چې ووایه خدایان مې لات، منات، او عزي دي، خو بلا رضي الله عنه به اَحَدْ اَحَدْ چغې وهلې بیا به یې هلکانو ته وویل: چې غاړه کې پړی ورته واچوئ او د مکې لارو کې یې راوگرځوئ، تر هغه چې له توحیده انکاري شي او همداسې به ورسره کیدل، خو بلال رضي الله عنه به اَحَدْ اَحَدْ چغې وهلې،

آخیر رسول الله ﷺ ابوبکر رضي الله عنه ته وویل: چې بلال رضي الله عنه ډیر په تکلیف کې دی له دې مشرکینو خلاصول غواړي.

نو ابوبکر رضي الله عنه پوه شو چې د رسول الله ﷺ مطلب د هغه ازادول دي، نو کور ته ولاړ او کور کې یې یو رطل چې د کیلو نه لږ کم دی سره زر را واخستل او امیة ابن خلف ته ورغی او ورته یې وویل: ته دا مسکین ولې په غذابوې؟ زه یې بدل کې که هر شی غواړې درکوم:

زما سره یو تور غلام دی چې د بلال رضي الله عنه نه تکړه او صحتمند دی او هغه هم ستا په دین دی هغه به در کړم که اشرفۍ غواړې، اشرفۍ به درکړم هغوئ ومنله.

یو روایت کې دي، چې غلام یې ورکړ، بل روایت دی، چې اشرفۍ یې ورکړې، بل روایت دی، چې دواړه یې ورکړل او بلال رضي الله عنه یې ازاد کړ.

کله چې هغه کافر نه بلال رضي الله عنه ازاد شو؛ نو ابوبکر رضي الله عنه ته یې وویل: زما دې په لات، منات او عزي قسم وي که تا زما نه بلال رضي الله عنه د یوې قجورې دانه باندې غوښتی وای ما به در کړی وای، نو ابوبکر رضي الله عنه ورته وویل، زما دې په خپل رب ﷻ باندې قسم وي: که تا زما ټوله شتمنئ باندې را کولای هم ما به درنه آخستی، تا ته د ده قیمت څه معلوم دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابوبکر رضي الله عنه چې کله بلال رضي الله عنه ازاد کړ؛ نو بلال رضي الله عنه بیا له رسول الله ﷺ څخه نه جدا کیده، چې څومره غزاګانې شوي دي بلال رضي الله عنه ټولو کې د یو بهادر سپاهي په شان خپله توره چلوله؛ خو د خوند وخت د بدر غزا وه، چې امیة ابن خلف زخمي پروت ؤ او بلال رضي الله عنه یې په سینه ناست ؤ او ورته ویل به یې:

☜ تا چې ماته ویل: خدای ﷻ ته دي ووایه چې تا را څخه خلاص کړي اوس دي ته هغه لات او منات را وغواړه چې تا بچ کړي.

رسول الله ﷺ فرمایي: چې دنیا کې څلور سیدان دي،

- اول زه د عربو،
- دوهم بلال رضي الله عنه د حبشو،
- دریم صهیب رومي رضي الله عنه د روم د خلکو،
- څلورم سلمان فارسي رضي الله عنه د فارسیانو.

کله چې د مسلمانانو تعداد ۳۸ یا ۳۹ ته ورسید، نو رسول الله ﷺ خپل کور کې اول وار په جماعت لمونځ وکړ، چې بلال رضي الله عنه هم ور سره ؤ، نو بلال رضي الله عنه د رسول الله ﷺ اولنی مؤذن هم دی، پاک خدای ﷻ ډیر ښکلی کونکی اواز ور کړی ؤ او بلال رضي الله عنه کله هم تهجد نه قضاء کول، چې کله به مسجد ته را روان ؤ رسول الله ﷺ به یې د پښو اواز پیژندو، کله چې رسول الله ﷺ معراج ته ولاړ، نو هلته یې هم د جنتونو دروازه کې د بلال رضي الله عنه د پښو اواز واورید، کله چې له معراج څخه بیرته را وګرځیده، نو بلال رضي الله عنه نه یې پوښتنه وکړه چې ته ماته ووایه چې ته کوم داسې غوره کار کوې چې ما ستا د پښو آواز د جنت دروازه کې وا ورید؟ بلال رضي الله عنه ورته وویل: نور نه پوهیږم؛ خو چې کله هم اودس مات کړم بیا نوی اودس کوم، بې اودسه نه ګرځم او بیا له اوداسه وروسته خامخا دوه رکعته تحیة الوضوء لمونځ کوم، نو رسول الله ﷺ ورته وویل: بس همدا سبب دی چې ته د دومره لوړې درجې خاوند شوی یې.

بلال رضي الله عنه د عمر رضي الله عنه د خلافت تر وخته مکه کې ؤ بیا عمر رضي الله عنه ورته اجازه ور کړه، شام ته ولاړ او هلته یې ډیر فتوحات نصیب شول، هم هلته شهید شو او هم هلته دفن شوی دی.

را تلونکي برخه کې د ابوبکر رضي الله عنه د پلار ابو قحافه رضي الله عنه مسلمان کیدل او د ابوبکر رضي الله عنه نور فضائل را سره اوسئ

◊◊◊◊◊

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د سیرت مبارک (۷) برخه.

د ابوبکر رضي الله عنه بهتري او لوړې درجې دا دي، چې تر ټولو لومړی مسلمانیدل، تر ټولو به د رسول الله ﷺ په امتیانو کې اول جنت ته ننوځي.

رسول الله ﷺ فرمايي: تر ټولو لومړی به زما په امتیانو کې ابوبکر رضي الله عنه جنت ته ننوځي.

او د عشره مبشره یعنې هغه لس تنه صحابه چې د جنت خوشخبري ورکول شوې ده هغوئ کې یې لومړی نوم ذکر شوی دی.

ابوبکر رضي الله عنه په رسول الله ﷺ دومره مئین ؤ چې د هیڅ پرواه یې نه کوله، یوه ورځ یې والد ابو قحافه چې لا مسلمان شوی نه ؤ د رسول الله ﷺ په باره کې لږ نامناسب الفاظ استعمال کړل، چې دا یې دیکه یې ورکړه، چې وغورځید، بیا یې رسول الله ﷺ ته دا خبره ذکر کړه چې رسول الله ﷺ ور باندې خفه شو، چې ولې دې دا سې کار کړی دی؟ د ابوبکر رضي الله عنه مشر زوی عبد الرحمن رضي الله عنه فرمايي، چې ما خپل پلار ابوبکر رضي الله عنه ته وویل، چې زه لا مسلمان شوی نه وم او د مکې مشرکینو سره د رسول الله ﷺ مقابلې ته راغلی وم، چې ته د بدر غزا کې زما توري ته برابر شوی وې؛ خو د پلار والي احترام مې وکړ، ومې نه وهلې نو؛ زما والد ابوبکر رضي الله عنه راته وویل: زما دې په رب ﷻ قسم وي که ته ما ته په نظر راغلی وای چې د کافرانو له لوري جنګیږې ما به له تا نه سر پرې کړی وای زه د اسلام په باره کې د هیڅ پروا نه کوم.

- عمر رضي الله عنه فرمايي: چې یوازې ابوبکر رضي الله عنه زما د ټول خاندان نه غوره دی.
- عمر ابن العاص رضي الله عنه فرمايي: چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه، څوک ډیر در باندې ګران دی؟

نو رسول الله ﷺ وویل: عائشه رضي الله عنها ! ما وویل: نه نارینه یادوم ! نو راته وې فرمایل: د هغې پلار ابوبکر رضي الله عنه.

ابو هریره رضي الله عنه فرمايي: چې رسول الله ﷺ د صحابه کرامو څخه پوښتنه وکړه: چې چا نن روژه نیولې ده ؟ ابوبکر رضي الله عنه وویل: ما ! بیا یې وفرمایل: چې چا نن جنازه کړې ده؟ ابوبکر رضي الله عنه وویل: ما ! بیا یې وفرمائل: چې چا نن مسکین ته خوراک ورکړی دی؟ ابوبکر رضي الله عنه وویل: ما ! بیا یې وویل: چې چا نن د مریض پوښتنه کړې ده؟ ابوبکر رضي الله عنه وویل: چې ما ! نو رسول الله ﷺ وفرمایل: چې چا ته دغه خوبیانې جمع شي هغه جنتي دی !

- عمر رضي الله عنه فرمايي: ما د ابوبکر رضي الله عنه د خلافت په وخت کې وغوښتل چې د شپې د خلکو تکالیف معلوم کړم بیا خلیفه پرې خبر کړم؛ نو د شپې راووتلم یوه نابینا بوډۍ زنانه وه د هغې کوم خپلوان نه وه؛ نو ګاونډیانو به یې خدمت کولو، نو زه د هغې کور ته ورغلم ګورم چې هر کار په بهترینه طریقه شوی دی او هغې ته خواړه هم پاخه شوي وو او ورکول شوي وو، نو بله شپه لږ وختي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورغلم خو بیا هم د هغې خدمت چا کړی ؤ، اخیر مې فیصله وکړه چې دغه کس معلوم کړم، نو ډیر وختي د هغې د کور سره نږدې پټ شوم کله چې د شپې د خلکو تګ را تګ ختم شو نو ګورم چې خلیفه ابوبکر رضي الله عنه راغی او د هغې په خدمت لګیا شو، نو ما ویل: عمره ! ته به کله هم د ده درجې ته ونه رسیږې، بیا عمر رضي الله عنه فرمايي: چې یو وار رسول الله ﷺ د صدقاتو غوښتنه وکړه: د یوې غزا له پاره تیاري کیدله، نو زړه کې مې ویل: چې نن به خامخا د ابوبکر رضي الله عنه نه وړاندې کیږم او خپله نیمه شتمني مې راوړله؛ خوهلته ابوبکر رضي الله عنه ټوله شتمني راوړې وه؛ نو رسول الله ﷺ ترې پوښتنه وکړه چې کور کې دې څه شی پریښي دي؟ ابوبکر رضي الله عنه ورته وویل: چې بس الله ﷻ او رسول الله ﷺ مې ورته پریښي دي ! نو عمر رضي الله عنه فرمايي: هلته هم ابوبکر رضي الله عنه را نه نومره وړې وه.

☚ اسماء رضي الله عنها فرمايي: چې کله مې والد ابوبکر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ سره هجرت کولو ټولې ۲۰۰۰ زره اشرفۍ کور کې وې ټولې یې واخستلې نو نیکه مې (ابو قحافه) کور ته راغی هغه نابینا ؤ راته یې وویل: چې ابوبکر (رضي الله عنه) به تاسو نه ټول مال وړی وي؟ ما ته د هغه مینه د خپل دوست سره معلومه ده.

☚ اسماء رضي الله عنها فرمايي: چې ما ژر ژر واړه واړه کاڼي یا تیږې د کوټې کونج کې جمع کړلې او کپړه یا د ټوکر یوه برخه مې سربېره وربانديې واچوله او د هغه لاس مې وربانديې کیښود، چې ګوره دا روپۍ یې پریښې دي چې د ده تسلي وشي، خو کور کې هیڅ نه وه.

◊◊◊◊◊

## د أبوبکر صدیق رضي الله عنه د سیرت مبارک (۸) برخه.

لکه څرنګه چې ذکر شوي دي چې أبوبکر الصدیق رضي الله عنه اول ځل د هجرت په نیت کوښښ کړی وو، بیا د برک غماد علاقې یو مشر ابن الدغنة بیرته را کرځولی ؤ، یو ځل بیا یې رسول الله صلی الله علیه وسلّم ته وویل: چې یارسول الله صلی الله علیه وسلّم ما ته د هجرت اجازه وکړه خو داځل رسول الله صلی الله علیه وسلّم ورته وفرمایل: صبر وکړه کیدای شي ملکري دي پیدا شي خو کله چې الله جل جلاله رسول الله صلي الله وسلّم ته د هجرت أمر وکړ، د غرمې وخت ؤ چې د أبوبکر رضي الله عنه کور ته ورغی ورته یې وویل: کور کې چې څوک وي له دې ځایه یې لیرې وباسه چې خصوصي خبره درسره لرم؛ نو أبوبکر الصّدیق رضي الله عنه ورته وویل: یارسول الله ﷺ دا یوه ستا بي بي عایشه رضي الله عنها ده دا نور زما اهل او اولاد دی د خطرې امکان نشته، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: چې ما ته د هجرت أمر شوی دی نو أبوبکر رضي الله عنه ورته وویل: یارسول الله ﷺ زه درسره یم یوا ځې دې نه پریږدم بیا یې عایشې رضي الله عنها او أسماء رضي الله عنها ته وویل: ژر کوی د سفر له پاره اوښان او خوراکي شیان تیار کړئ. هغوئ ژر ژر هر څه برابر کړل او بیګاه ته د شپې دواړه ووتل.

رسول الله ﷺ په خپله بستره علي رضي الله عنه بن ابي طالب پرې ایستلی وو، چې صبا ته د خلکو امانتونه ورو سپاري ځکه چې مسلمانانو او کافرانو به د امانت ساتلو له پاره شیان او نقد درهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکـول او زیـات امانتـدار ؤ او همدغـه شـپه ټولـو مشـرکینو ټـول تکـړه ځوانـان را غونـډ کـړل د پروګـرام مطـابق یـې وسـله ورکړلـه او د رسـول الله ﷺ کـور یـې محاصـره کـړ، کلـه چـې رسـول الله ﷺ لـه کـوره راووت دعـاء یـې وکـړه او ټولـو ورتـه کتـل سـترګو یـې کـار نـه کولـو او رسـول الله ﷺ أبـوبکر رضـي الله عنـه سـره یـو ځـای او د غـار ثـور طـرف تـه ولاړل او هلتـه غـار کـې کښیناسـتل، کلـه چـې صـبا شـو او رڼـا خپـره شـوه نـو ورتـه معلومـه شـوه چـې پـه بسـتره علـي رضـي الله عنـه ویـده ؤ او رسـول الله ﷺ هجـرت کـړی، نـو هغـوئ ټـول ور پسـې پـه آسـونو او اوښـانو ووتـل ټـولې لارې یـې ولټـولې؛ خـو هیڅـا تـه یـې درک ونـه لګیـد تـر هغـې چـې د غـار ثـور پـه طـرف هـم ولاړل هلتـه کـوترو هګـۍ واچـولې او پـه هماغـه ځـای کښیناسـتلې او غڼـې د غـار پـه خولـه جالونـه جـوړ کـړل تـر څـو مشـرکینو تـه معلومـه شـي چـې دننـه څـوک نشـته کـه څـوک وای نـو د غڼـې جالونـه او کـوترې هګـۍ بـه خرابـې شـوې وای، کلـه چـې مشـرکین پـه دغـه ځـای تیریـدل او خبـرې یـې ابوبکر رضي الله عنه واوریدلې نو ابوبکر رضي الله عنه وویل:

یارسـول الله ﷺ کـه دوئ خپلـو پښـو تـه وګـوري نـو مـونږ ورتـه ښـکارو، نـو رسـول الله ﷺ ورتـه وویـل: مـه غمجـن کیـږه مـونږ دواړو سـره الله جـل جلالـه دی یعنـې الله جـل جلالـه زمـونږ سـاتنه کـوي، یـا ابـوبکره رضي الله عنه ته د هغه دوه کسانو په هکله څه فکر کوې چې دریم ورسره الله جل جلاله دی

{لَـا تَحْـزَنْ إِنّ اللهَ مَعَنَـا} مشـرکینو ونـه لیـدل دریـ ورځـې هلتـه غـار کـې پـاتې شـول تـر هغـې چـې مشـرکین ټـول نا امیـده بیرتـه مکـې مکرمـې تـه سـتانه شـول، دری ورځـې بـه ورتـه د شـپې عبـد الله بـن ابـي بکـر رضـي الله عنـه او د ابـوبکر رضـي الله عنـه غـلام خـوراک وروړلـو، بیـا دوئ لـه غـار ثـور ووتـل او مـدینې منـورې ته روان شول،

لاره کې د أم معبد رضي الله عنه د وچې میږې شیدې رالوشل څنګه وشول•؟

◊◊◊◊◊

## د أبوبکر صدیق بن ابو قحافۀ رضي الله عنه د سیرت مبارک (۹) برخه.

موضـوع د أبـوبکر رضـي الله عنـه مـار چیچـل، د أم معبد الخزاعیـة وچـې، زړې أو مریضـې میـږې شـیدې کـول، حـافظ ابـوبکر البـزار رضـي الله عنـه مسلسـل حـدیث د جـابر ابـن عبـد الله رضـي الله عنـه څخـه روایـت کـړی دی: کلـه چـې أبـوبکر رضـي الله عنـه او رسـول الله ﷺ غـار ثـور تـه ورسـیدل نـو هلتـه دری ورځـې وو، یـو وخـت رسـول الله ﷺ تـه خـوب ورغـی هغـه ویـده شـو د ابـوبکر رضـي الله عنـه غیـږ کـې یـې سـر مبـارک کېښـود ابـوبکر رضـي الله عنـه سـره چـې اضـافه جـامې یـا څـادر ؤ هغـه یـې وشـکولې (تکـړې تکـړې کړلـې) او د غـار سـورې یـې وربانـدې بنـد کـړل، یـو سـوری پاتـه شـو هغـې تـه یـې د پښـې پونـده کیښـودله د دې لـه پـاره کـه کـوم مـار یـا لـړم وي چې رسـول الله ﷺ تـه تکلیـف ونـه رسـوي، خـو هغـه ځـای کـې مـار ؤ کـوم ځـای کـې

---

• وکـان رسـول الله صـلى الله علیـه وسـلم قـد سـار مـع أبـي بكـر رضـي الله عنـه والـذي كـان ينتظـر بفـارغ الصـبر مرافقتـه لرسـول الله حيـث إنـه كـان اسـتأذن رسـول الله صـلى الله علیـه وسـلم قبـل ذلـک بالهجرة فقال له علیه السلام لا تعجل لعل الله أن یجعل لک صاحبا.

وكانـت الصـحبة مـع رسـول الله صـلى الله علیـه وسـلم، سـارا حتـى وصـلا إلـى غـار ثـور فـدخلاه، وجـاءت العنكبـوت فنسـبت علـى بابـه، وجـاءت حمامـة فباضـت ورقـدت فلمـا وصـل رجـال قـريش إلـى الغـار قـال أبـو بكـر: يـا رسـول الله لـو أن أحـدهم ينظـر إلـى قدميـه لأبصـرنا، فقـال النبـي صـلى الله علیـه وسـلم يـا ابـا بكـر مـا ظنـک بـاثنين الله ثالثهمـا. معنـاه أن الله تعـالى هـو الـذي يحفظنـا وينصـرنا. ولـيس معنـاه أن الله تعـالى موجـود معهمـا فـي الغـار وكـذلک قولـه تعـالى إخبـارا عـن نبيـه صـلى الله علیـه وسـلم أنـه قـال: {لا تحـزن إن الله معنـا} لـيس معنـاه أن الله تعـالى بذاتـه معهمـا في الغار بل المعية هنا هي معية النصرة أي الله تعالى هو الذي ينصرنا ويحمينا لأن الله تعالى لا يوصف بانه يحل مكانا فهو الموجود بلا مكان وهو المنزه عن كل صفات الخلق.

لقد حمى الله تعالى نبيه ومن معه،

رواه مسلمؒ والبخاریؒ باب هجرة النبیﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ابوبکر رضي الله عنه پونده ایښې وه؛ نو ابوبکر رضي الله عنه یې وچیچلو، خو ابوبکر رضي الله عنه دردونه برداشت کړل هغه نه غوښتل چې رسول الله ﷺ له خوارږه خوبه راویښ شي خو بې اختیاره یې له زیات درده اوښکې د رسول الله ﷺ په مخ مبارک تویې شوې چې رسول الله ﷺ راویښ شو او پوښتنه یې وکړه چې ولې او څه پیښه وشوه؟ ابوبکر رضي الله عنه ورته وویل: مار وچیچلم! نو رسول الله ﷺ ور باندې خپلې لاړې یا لعاب مبارک ومښل او درد یې ختم شو، بیا یې مار ته وویل: ایا تاته شرم نه درتلو، چې زما ملګری دی وچیچو؟ نو مار ورته وویل: یا رسول الله ﷺ ما له چا اوریدلي وه چې اخیري نبي ﷺ به دلته پناه راوړي نو زه دلته په طمع وم چې ستا دیدن وکړم، خو د ابوبکر رضي الله عنه پښې زما څخه منع کړې وې، بل روایت کې راغلي: چې دغه ماریو شیطان ؤ چې ابلیس ورته ویلي وه چې ولاړ شه رسول الله ﷺ وچیچه خو کامیاب نه شو بیا فرمایي: چې کله رسول الله ﷺ او ابوبکر رضي الله عنه له غار ثور څخه وتل نو عبدالله بن اریقت الیثي یې په مزدورۍ نیولی ؤ هغه ته لار معلومه وه چې لار ورته وښایي او د ابوبکر رضي الله عنه غلام عامر بن فهیره هم ورسره ؤ، لاره زیاته اوږده وه پوره اته ورځې مزل ؤ نو اوله ورځ ماښام یوه دښته کې خیمې ولاړې وې هلته ورغلل خیمه کې د أم معبد په نوم یوه زړه ښځه وه ورته یې وویل: میلمنو زه یوه ښځه یم نارینه را سره نشته که تاسو شپه کول غواړئ د هغه کلي مشر ته ورشئ هغه به مو ښه عزت وکړي، خو رسول الله ﷺ ورته جواب ورنه کړ او ورته یې وویل: که تا سره د حلالولو له پاره څه شی وي یا شیدې وغیره د خرڅولو له پاره وي مونږ یې در څخه اخلو، خو هغې وویل، اوس خو څه نشته چې در یې کړم.

لږ وخت وروسته یو ځوان د خیمې په طرف راغی هغه د دغې ښځې أم معبد زوی ؤ هغې خپل زوی ته یوه میږه او چاړه ورکړه چې دا میږه بوځه (ورو له) چې هغه میلمانه یې حلاله کړي هغه ځوان میږه راوستله چې دا تاسو حلاله کړئ نو رسول الله ﷺ ورته وویل: ته چاړه بیرته یوسه او یو لوښی راوړه چې دغه میږه پکې ولوشم هغه په تعجب سره وویل: دا میږه زړه، مریضه او وچه ده شیدې نه کوي، رسول الله ﷺ ورته وویل: ته ولاړ شه لوښی راوړه هغه بیرته ولاړی مور ته یې قصه وکړه هغې هم تعجب وکړ، چې دا څرنګه خلک دي له وچې میږې د شیدو طمع کوي خو هغه ځوان لوښی راوړ، بیا رسول الله ﷺ بسم الله الرحمن الرحیم وویل: د میږې غولانځه باندې یې لاسونه مبارک ووهل د میږې غولانځه کې شیدې پیدا شوې رسول الله ﷺ هغه لوښي کې شیدې را ولوشلې هغه ځوان دوئ ته کتل چې دا څه رقم برکتي انسان دی وچه میږه کې یې شیدې پیدا کړې لوښی چې ډک شو رسول الله ﷺ هغه ځوان ته وویل: دا یوسه چې مور دې وڅښي او ته بل لوښی راوړه هغه ولاړی مور ته یې شیدې ور کړې، هغه هم حیرانه شوه بل لوښی یې ورکړ، بیا رسول الله ﷺ همدا سې لوښي را غوښتل تر هغه چې هغه مور او زوی په شیدو ماړه شول. بیا دوئ څلورو کسانو هم وڅښلې تر هغه چې دوئ هم ماړه شول بیا یې هغې ښځې ته دعا وکړه سهار ترې بیا را روان شول.

د دې ښځې نور معلومات دا دي چې الله جل جلاله یې مال کې برکت واچولو مالداري یې زیاته شوه تر هغه چې یوه برخه یې مدینې منورې ته د خرڅلاؤ له پاره راوستله، نو أبوبکر رضي الله عنه بازار کې روان ؤ چې هغه ځوان یې ولید، مور ته یې بږغ وکړ: چې مورې هغه سړی خو دغه دی چې زمونږ خیمو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د هغه برکتي سړي سره راغلې ؤ ، هغې ورته اواز وکړ، ابوبکر رضي الله عنه هم وپیژندل ورغی هغې ښځې ورته وویل: ستاسو په دعا خو زمونږ مالداري زیاته شوه، خو هغه برکتي سړی چیرې دی؟ ابوبکر رضي الله عنه ورته وویل: ته هغه پیژنې چې څوک ؤ؟ هغې وویل: نه ! نو ابوبکر رضي الله عنه ورته وویل: هغه خو زمونږ رسول ﷺ دی نو هغې ورته وویل: مونږ بوځه (ورولــه) بیا ابوبکر رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته بوتلل هغوئ ایمان راوړ او رسول الله ﷺ ورته دوه غلامان او نور شیان ورکړل او ښه عزت یې ورکړ.

بیا هغې ښځې رسول الله ﷺ ته وویل: کله چې تاسو رخصت شوئ بیا نور ځوانان راغلل چې زیات قهریدلي وه ستاسو پوښتنه یې وکړه خو ما ورته وویل: دلته څوک نه دي راغلي خو ما به همیشه فکر کاوه چې دغه لارکې مونږ ته بادشاهان هم میلمانه شوي دي خو ستا په شان برکت والا مو نه وه لیدلي•.

د سفر سلسله جاري ده د سراقه ابن مالک قصه به ولولئ.

◊◊◊◊◊

## د أبوبکر صدیق بن ابو قحافهٔ رضي الله عنه د سیرت مبارک (۱۰) برخه.

سیرت ابن هشام او تفسیر ابن کثیر.

☚ د أبوبکر رضي الله عنه څخه روایت کړی دی، کله چې مونږ ځلور کسان د هجرت په دوهمه ورځ روان شولو مونږ هیڅیا تعقیب نه کړو تر هغې چې سراقه ابن مالک المدلجي رضي الله عنهما را پسې را ورسید ، کله چې ما ولید هغه په آس مونږ پسې را روان دی نو رسول الله ﷺ ته مې وویل: څوک را پسې را روان دی، نو رسول الله ﷺ راته وویل: مه ویریږه، ما ورته وویل: ما سره ستا فکر دی په خپل ځان نه یم، رسول الله ﷺ وویل: الله جل جلاله به یې دفع کړي تر هغې چې هغه بلکل را نژدې شو.

---

• وقال الحافظ أبو بكر البزار: حدثنا محمد بن معمر، حدثنا يعقوب بن محمد، حدثنا عبد الرحمن بن عقبة، بن عبد الرحمن بن جابر بن عبد الله، ثنا أبي عن أبيه عن جابر قال: لما خرج رسول الله ﷺ وأبو بكر مهاجرين فدخلا الغار، إذا في الغار جحر فألقمه أبو بكر عقبه حتى أصبح مخافة أن يخرج على رسول الله ﷺ منه شيء، فأقاما في الغار ثلاث ليال ثم خرجا حتى نزلا بخيمات أم معبد فأرسلت إليه أم معبد أني أرى وجوها حسانا، وإن الحي أقوى على كرامتكم مني، فلما أمسوا عندها بعثت مع ابن لها صغير بشفرة وشاة، فقال رسول الله ﷺ: «أردد الشفرة وهات لنا فرقا» يعني: القدح، فأرسلت إليه أن لا لبن فيها ولا ولد، قال: «هات لنا فرقا» فجاءت بفرق فضرب ظهرها فاجترت ودرت فحلب فملأ القدح فشرب وسقى أبا بكر، ثم حلب فبعث فيه إلى أم معبد، ثم قال البزار: لا نعلمه يروى إلا بهذا الإسناد، وعبد الرحمن بن عقبة لا نعلم أحدا حدث عنه إلا يعقوب بن محمد وإن كان معروفا في النسب، وروى الحافظ البيهقي من حديث يحيى بن زكريا بن أبي زائدة، حدثنا محمد بن عبد الرحمن بن أبي ليلى، ثنا عبد الرحمن بن الأصبهاني، سمعت عبد الرحمن بن أبي ليلى عن أبي بكر الصديق رضي الله عنه، قال: خرجت مع رسول الله ﷺ من مكة فانتهينا إلى حي من أحياء العرب، فنظر رسول الله ﷺ إلى بيت منتحيا فقصد إليه، فلما نزلنا لم يكن فيه إلا امرأة فقالت: يا عبد الله! إنما أنا امرأة وليس معي أحد، فعليكما بعظيم الحي إن أردتم القرى، قال: فلم يجبها وذلک عند المساء، فجاء ابن لها بأعنز لها يسوقها، فقالت: يا بني انطلق بهذه العنز والشفرة إلى هذين الرجلين فقل لهما تقول لكما أمي: اذبحا هذه وكلا وأطعمانا، فلما جاء قال له النبي ﷺ «انطلق بالشفرة وجئني بالقدح»، قال: إنها قد عزبت وليس بها لبن، قال: «انطلق»، فجاء بقدح فمسح النبي ﷺ ضرعها، ثم حلب حتى ملأ القدح، ثم قال: «انطلق به إلى أمک»، فشربت حتى رويت، ثم جاء به فقال: «انطلق بهذه وجئني بأخرى»، ففعل بها كذلک ثم سقى أبا بكر، ثم جاء بأخرى ففعل بها كذلک، ثم شرب النبي ﷺ، فبتنا ليلتنا، ثم انطلقنا، فكانت تسميه المبارک، وكثرت غنمها حتى جلبت جلبا إلى المدينة، فمر أبو بكر فرأى ابنها فعرفه، فقال: يا أمه هذا الرجل الذي كان مع المبارک، فقامت إليه فقالت: يا عبد الله من الرجل الذي كان معک؟ قال: أو ما تدرين من هو؟ قالت: لا. قال: هو نبي الله قالت: فأدخلني عليه. قال: فأدخلها فأطعمها رسول الله ﷺ وأعطاها - زاد ابن عبدان في روايته - قالت: فدلني عليه. فانطلقت معي وأهدت لرسول الله ﷺ شيئا من أقط ومتاع الأعراب. قال: فكساها وأعطاها. قال: ولا أعلمه إلا قال: وأسلمت، إسناد حسن. وقال البيهقي: هذه القصة شبيهة بقصة أم معبد، والظاهر أنها هي والله أعلم. وقال البيهقي: أخبرنا أبو عبد الله الحافظ، وأبو بكر أحمد بن الحسن القاضي. قالا ثنا أبو العباس الأصم، ثنا الحسن بن مكرم، حدثني أبو أحمد بشر بن محمد السكري، ثنا عبد الملک بن وهب المذحجي، ثنا أبجر بن الصباح عن أبي معبد الخزاعي أن رسول الله ﷺ خرج ليلة هاجر من مكة إلى المدينة هو وأبو بكر وعامر بن فهيرة مولى أبي بكر ودليلهم عبد الله بن أريقط الليثي، فمروا بخيمتي أم معبد الخزاعية، وكانت أم معبد امرأة برزة جلدة تحتبي وتجلس بفناء الخيمة فتطعم وتسقي، فسألوها هل عندها لحم أو لبن يشترونه منها؟ فلم يجدوا عندها شيء من ذلک. وقالت: لو كان عندنا شيء ما أعوذكم القرى، وإذا القوم مرملون مسنتون. فنظر رسول الله ﷺ فإذا شاة في كسر خيمتها، فقال: «ما هذه الشاة يا أم معبد؟». فقالت: شاة خلفها الجهد عن الغنم. قال: «فهل بها من لبن». قالت: هي أجهد من ذلک. قال: «تأذنين لي أن أحلبها؟». قالت: إن كان بها حلب فاحلبها. فدعا رسول الله ﷺ بالشاة فمسحها وذكر اسم الله، ومسح ضرعها وذكر اسم الله، ودعا بإناء لها يربض الرهط فتفاجت واجترت فحلب فيها تجا حتى ملأه فسقاها وسقى أصحابه فشربوا عللا بعد نهل، حتى إذا رووا شرب آخرهم وقال: «ساقي القوم آخرهم». ثم حلب فيه ثانيا عودا على بدء فغادره عندها ثم ارتحلوا، قال: فقلما لبث أن جاء زوجها أبو معبد يسوق أعنزا عجافا يتساوكن هزلى لا نِقي بهن، مخهن قليل فلما رأى اللبن عجب وقال: من أين هذا اللبن يا أم معبد، ولا حلوبة في البيت والشاة عازب؟ فقال حاء رجل مبارک فدعاء لها ،بالبركة، قال: - يعني: عبد الملک بن وهب - فبلغني أن أبا معبد أسلم وهاجر إلى النبي ﷺ وهكذا روى الحافظ أبو نعيم من طريق عبد الملک بن وهب المذحجي فذكر مثله سواء وزاد في آخره قال عبد الملک: بلغني أن أم معبد هاجرت وأسلمت ولحقت برسول الله ﷺ. والله اعلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور تفصيل په خپله د سراقه ابن مالک رضي الله عنه څخه.

☚ سراقه ابن مالک المدلجي رضي الله عنهما فرمايي: چې قريشو انعام وټاکو، چې هر چا د محمد ﷺ سر راوړ، يا يې ژوندی را وست، نو سل ۱۰۰ سل اوښان او نور مال به ورکوو. نو مونږ د خپل قوم بني مدلج په يوه غونډه کې ؤ چې يو نفر راغی هغه وويل: تا ته خو انعام معلوم دی؟ چې هر چا محمد ﷺ ووژلو يا يې ژوندی را وست؛ نو هغه ته دا انعام ورکول کيږي، خو اوس ما ته يو څه خلک په مخه راغلل هغوئ مې لاره کې وليدل کيدای شي محمد ﷺ او ملګري يې وي، نو ما فکر وکړی چې ته خو ښه تکړه مضبوط آس لرې ښه غښتلی ويشتونکی او توره چلوونکی يې، ډير ښه چانس دی بايد دغه انعام وګټې او انعام هم بيخي زيات ؤ، نو لږ صبر مې وکړ، تر هغه چې د قوم فکر بل طرف ته ولاړ شي ورته مې وويل: نه هغوئ نه دي د فلاني قوم اوښان نادرکه شوي دي په هغو پسې ګرځي،

کله چې مې د قوم خلکو پام بدل کړ هغوئ په بله خبره لګيا شول زه ترې را ووتلم، او خپلې وينځې ته مې وويل: زما آس تيار کړه هغې آس تيار کړ او ما په غښتو فال ونيولو، هغه سم را ووت، نيزه مې مځکه کې ښخه کړه هغه هم سمه را ووتله نو پوه شوم چې کامياب يم نو په آس سپور شوم او آس مې وځغلولو تر هغه چې دوهمه ورځ مې څوک په نظر راغله چې روان دي زه ګړندی شوم ځان مې ور ورساوه خو رسول الله ﷺ شا ته نه راکتل فقط ابوبکر رضي الله عنه راته کتل کله چې يو ګز په اندازه ور نږدې شوم د آس لاسونه يا مخکينی پښې په مځکه کې (تنوتلې) ښخې شوې آس تر سينه پکې پټ شو زه ترې وغورځيدلم زه را پورته شوم نيزه مې را ويستله خو لاس مې شل شو،

نو زه پوه شوم چې دا د محمد ﷺ برکت دی ږغ مې ور باندې وکړ، چې دعا راته وکړه چې آس مې خلاص شي زه به بيرته وګرځم او مقابل کې به د هغه چا سترګې ړندې کړم چې په تاسو پسې را روان وي يعنې زه به ورته ووايم: ما په دغه لار ولټول تر مدينې پورې په دغه لار نشته، بيا رسول الله ﷺ دعا وکړه زما آس مځکې پريښود کله چې ما مځکې ته وکتل له هغه ځايه چې د آس پښې پکې ښخې شوې وې د لوګي په شان دود اسمان ته پورته شو،

زما زړه کې بيا د اوښانو طمع پيدا شوه بيا مې توري ته لاس کړ بيا مې لاس شل شو، درې ځله ما دغه غلط حرکت وکړ؛ خو کامياب نه شوم بيا مې ورته وويل: ما ته دعاء وکړه زما ټول سامان تاسو واخلئ فقط چې زه بچ شم، هغوئ وفرمايل: مونږ ته ستا د سامان ضرورت نشته.

بيا مې ور سره کلکه وعده وکړه او زما لاس روغ شو،

بيا رسول الله ﷺ راته وفرمايل: هغه وخت به ته څومره خوشحاله وې چې د کسرې د لاسونو بنګړي لاسونو کې وا چوې تر غاړې دې ورسيږي او د سرو زرو واسکټ وا غوندې او تاج يې په سر کيږدې، نو ما ورته وويل: زه او د کسرې د لاس د سرو زرو بنګړي، تاج او د زغرو په شان د سرو زرو واسکټ، عجيبه خبره ده؟

نو رسول الله ﷺ وفرمايل: هو همدا سې به کيږي، نو زه پوه شوم چې د ده خبره رښتيا کيدونکې ده نو ورته مې وويل: ما ته امن را کولای شئ که زه وغواړم بيا تاسو ته بې له ويرې راشم؟ نو رسول الله ﷺ وويل: هو بيا يې د عامر بن فهيره غلام په واسطه په پوستکي يو د امن ليک راته وليکی، بيا زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیرتـه را ستون شـوم خپله وعـده مـې پـوره کـړه هـر څـوک بـه چـې مخـې تـه راغـي مـا بـه ورتـه ویـل: چـې دغـه لار مـا ټولـه ولټوله هیڅـوک نشـته ځانونـه مـه سـتړي کـوی، نـو ابوجهـل خبـر شـو چـې سـراقه ابـن مالـک وایـې: ځانونـه مـه سـتړي کـوی هغـوئ مـدینې منـورې تـه ورسـیدل نـو زه یـې ملامـت کـړم چـې لـه تـا څخـه ولـې بچ شول•؟

د سراقه ابن مالک اسلام به د هغه په سیرت کې بیان شي.

د رسول الله ﷺ او ابوبکر رضي الله عنه د هجرت لړئ دوام لري،

◊◊◊◊◊

## د أبوبکر صدیق بن ابو قحافۀ رضي الله عنه د سیرت مبارک (۱۱) برخه.

أبـوبکر رضـي الله عنـه پـه ټولـو غزاګـانو کـې شـریک شـوی دی ، خـو د هجـرت پـه دوهـم کـال چـې د بـدر غـزا پیښه شوه خپله بهادري یې ونبودله.

کلـه چـې د ابوسـفیان قافلـه بـچ شـوه او مکـې مکرمـې تـه ورسـیدله او لـه مکـې مکرمـې سرکشـه مشـرکین د بـدر بـن مغیـره کـوهي تـه راغلـل اګـر چـې مسـلمانان جنګ تـه نـه وه راوتلـي، خـو کـافران جنګ تـه راغلـل او ابوجهـل قسـم کـړی وو ، چـې دلتـه بـه درې ورځـې شـراب او کبـاب خـوري ډمـې بـه ګـډوي، نـو رسـول الله ﷺ هـم صـحابه کـرام را جمـع کـړل چـې مشـوره وکـړي چـې څـه وکـړي ځکـه چـې مسـلمانان ۳۱۳ کسـان او کـافران بیخـې زیـات وه، نـو تـر ټولـو لـومړی ابـوبکر رضـي الله عنـه پورتـه شـو او پـه ډاډه زړه یـې د مقـابلې کولـو وعـده وکـړه ، بیـا ورپسـې عمـر ابـن الخطـاب رضـي الله عنـه پورتـه شـو هغـه هـم حوصـله ورزیاتـه کـړه، بیـا پـه دغـه غـزوه کـې د ابـوبکر رضـي الله عنـه زوی عبـدالرحمن رضـي الله عنـه هـم د کـافرانو پـه صـف کـې موجـود ؤ کلـه چـې مسـلمان شـو نـو خپـل پـلار ابـوبکر رضـي الله عنـه تـه یـې وویـل: د بـدر غـزوه کـې زمـا د تـورې وار تـه برابـر شـوی وې خـو مخـه مـې درکـړه ومـې نـه وهلـې، نـو ابـوبکر رضـي الله عنـه ورتـه وویـل: قسـم دی کـه مـا لیـدلی وای نـو مـا بـه هیڅکلـه نـه وای پرېښـی ځکـه ماتـه اسلام لـه رشـتې زیـات محبـوب دی.

کلـه چـې بنـو نضـیر تسـلیم شـول او د احـد غـزوه پیښـه شـوه او اوازه ګـډه شـوه چـې نعوذبـالله رسـول الله ﷺ شـهید شـوی نـو ابـوبکر رضـي الله عنـه د کفـارو پـه صـفونو کـې دننـه شـو او ویـې ویـل: چـې نـور نـو ژونـد هـیڅ

---

• ابـن هشـام وابـن کثیـر وغیـرهم أن سـراقة بـن مالـک، وهـو فـارس مـن بنـي مـدلج، کـان فـي بعـض قومـه قریبـاً مـن مکـة، فـإذا برجـل یـدخل علـیهم، ویـذیع فـیهم نبـأ الجـائزة، فمـا کـاد سـراقة یسـمع بـالنوق المئـة حتـی اشـتد حرصـه علیهـا، ولکنـه کـان ذکیـاً، فضـبط نفسـه ولـم ینطـق بکلمـة، وقبـل أن یـنهض مـن مجلسـه، دخـل رجـل یقـول لقـد مـر بـي الآن ثلاثـة رجـال وإنـي لأظـنهم محمـداً وأبـا بکر ودلیلهما فقال سراقة إنهم بنو فلان مضوا یبحثون عن ناقة لهم أضلوها یرید أن یصرف الناس عن هذه الجائزة، فقال الرجل لعلهم کذلک.

مکـث سـراقة قلـیلاً حتـی دخـل القـوم فـي حـدیث آخـر وانسـل مـن بیـنهم، وأسـرع ولـبس درعـه وتقلـد سـلاحه، واعتلـی فرسـه وانطلـق لیـدرک محمـداً صـلی الله علیـه وسـلم، ومضـی، لکنـه مـا لبـث أن عثـرت فرسـه، وهـمّ بـالرجوع ومـا رده إلا طمعـه فـي النـوق، فلـم یبتعـد کثیـراً حتـی أبصـر النبـي فمـد یـده إلـی قوسـه، ولکـن یـده جمـدت فـي مکانهـا ثـم غاصـت قـوائم فرسـه فـي الأرض، فـدفع الفـرس، فـإذا هـي قـد غاصـت ثانیـة، فالتفـت إلـی النبـي صـلی الله علیـه وسـلم وصـاحبه، وقـال ادعـوا لـي ربکمـا أن یطلـق قـوائم فرسـي ولکمـا علـيّ أن أکـف عنکمـا فـدعا لـه النبـي فـأطلق الله لـه قوائم فرسه.

تـذکر سـراقة المئـة ناقـة، فتحرکـت أطماعـه مـن جدیـد، فـدفع فرسـه نحوهمـا فغاصـت قوائمـه أکثـر، فاسـتغاث للمـرة الثانیـة، وقـال إلیکمـا زادي ومتـاعي وسـلاحي ولکمـا علـيّ عهـد الله أن أرد عنکمـا مـن ورائـي مـن النـاس، فقـالا لا حاجـة لنـا بـزادک ومتاعـک، ولکـن رد عنـا النـاس ثـم دعـا لـه النبـي فانطلقـت فرسـه، فلمـا هـم بـالعودة ناداهمـا قـائلاً والله لا یأتیکمـا منـي شـيء تکرهانـه، فقـال لـه النبـي صـلی الله علیـه وسـلم: «مـا تبتغـي منـا»، فقـال والله یـا محمـد إنـي لأعلـم أنـه سـیظهر دینـک ویعلـو أمـرک فعاهـدني إذا أتیتـک فـي ملکـک أن تکرمنـي، واکتـب لـي بـذلک، أریـد کتاب أمان، فأمر عامر بن فهیرة فکتب له في رقعة من جلد.

ولما همّ بالانصراف قال له النبي صلی الله علیه وسلم: «کیف بک یا سراقة إذا لبست سواري کسری»، فقال سراقة: کسری بن هرمز؟ قال الرسول: «نعم کسری بن هرمز».

عـاد سـراقة فوجـد النـاس قـد أقبلـوا ینشـدون رسـول الله، فقـال لهـم ارجعـوا فقـد نفضـت الأرض نفضـاً بحثـاً عنـه فـلا ترهقـوا أنفسـکم فیمـا لا طائـل مـن ورائـه، وکـتم خبـره مـع النبـي وصـاحبه حتـی أیقن أنهما بلغا المدینة، وأصبحا في مأمن عند ذلک أذاع الخبر، فلما سمع أبو جهل بخبر سراقة وموقفه وجه له اللوم علی تخاذله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فایده نه کوي صفونو کې یې لار پیدا کوله او مشرکین یې وهل تر هغه چې رسول الله ﷺ په نظر ورغی چې د کفارو منځ کې راګیر دی ځان یې ور ورساوه بیا ور پسې ابوعبیده ابن الجراح رضي الله عنهم، بیا علي رضي الله عنه بن ابي طالب، بیا طلحه بن عبید الله رضي الله عنه، زبیربن عوام رضي الله عنه، عمر ابن الخطاب رضي الله عنه، حارث بن الصمة رضي الله عنه، أبودجانه بن سماک رضي الله عنه، او سعدبن ابي وقاص رضي الله عنه هم ور ورسیدل او رسول الله ﷺ یې د مشرکینو څخه وژغورو.

څلورم هجري کې غزوه بنو نضیر او پنځم هجري کې غزوه بن المصطلق کې هم شریک ؤ چې د مهاجرینو بیرغ ور سره ؤ او د خندق غزوه کې هم شریک شوی دی.

شپږم هجري کې د حدیبې صلح کې هم موجود ؤ ، د خیبر په غزا کې ۷ هجري کې شریک ؤ، بیا د نجد علاقې ته یوه ډله صحابه رضي الله عنهم مجاهدین هم د ابوبکر رضي الله عنه په مشرۍ تللې وه ، غزوه بني فراز کې اولنۍ غزوه وه چې عمومي قومانده یې د ابوبکر رضي الله عنه په غاړه وه،

۷ هجري کې قضایې عمره کې هم ابوبکر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ سره موجود ؤ،

۸ هجري کې غزوه ذات السلاسل کې هم ابوبکر رضي الله عنه موجود ؤ.

بیا چې کله قریشو د صلحې خلاف کارونه وکړل او ابو سفیان مدینې منورې ته راغی چې یو ځل بیا تجدید وکړي نو ابوبکر رضي الله عنه ورته وویل: قسم دی چې ستاسې بچې هم ژوندي وي در سره جنګیږم به، که رسول الله ﷺ راته اجازه ونه کړي هیڅکله به دغه لوظنامه در سره نوي نه کړم، بیا د مکې مکرمې فتح کې ابوبکر رضي الله عنه له رسول الله ﷺ بلکل نه جدا کیده، تر هغه چې پوره امن شو بیا ولاړ او پلار یې له لاسه نیولی ؤ، رسول الله ﷺ ته یې حاضر کړ او مسلمان شو، بیا د حنین غزوه ۸ هجري کې د ابوبکر رضي الله عنه په برکت وشوه- بیا چې د تبوک غزوه کیدله نو تر ټولو اول د جهاد له پاره د کور ټول سامان ابوبکر رضي الله عنه راوړ او کله چې بیا سپه سالارانو ته بیرغونه ورکول کیدل تر ټولو غټ او لوی بیرغ ابوبکر رضي الله عنه ته ورکول شوی ؤ.

۹ نهم هجري کې رسول الله ﷺ د حاجیانو مشري د ابوبکر رضي الله عنه په غاړه اچولې وه.

بیا د رسول الله ﷺ اخیري حج چې حجة الوداع ورته وایې ۱۰ هجري کې هغه کې هم ابوبکر رضي الله عنه رسول الله ﷺ سره موجود ؤ•.

---

• شهد أبو بكر مع النبي محمد غزوة بدر والمشاهد كلها، ولم يَفُتْه منها مشهد، فقد شارك أبو بكر في غزوة بدر سنة 2هـ، وكانت له فيها مواقف مشهورة، فلما بلغ النبيّ محمداً نجاةُ القافلة وإصرارُ زعماء مكة على قتال النبي، استشار أصحابه في الأمر، -فقام أبو بكر أولاً فقال وأحسن، ثم قام عمر بن الخطاب فقال وأحسن. وقد ظهرت من أبي بكر شجاعة وبسالة، وقد شارك ابنه عبد الرحمن في هذه المعركة مع المشركين، فلما أسلم قال لأبيه: «لقد أهدفت لي (أي ظهرت أمامي) يوم بدر، فملت عنك ولم أقتلك»، فقال له أبو بكر: «لو أهدفت لي لم أمل عنك»، رسم من القرن الرابع عشر يُظهر استسلام بني النضير للمسلمين، وشهد أبو بكر غزوة أحد سنة 3هـ، ولما تفرق المسلمون من حول النبي محمد، وتبعثر الصحابة في أرجاء الميدان، وشاع أن الرسولَ محمداً قد قُتل، شقّ أبو بكر الصفوف، وكان أولَ من وصل إلى الرسول محمد، وقد اجتمع إلى الرسول محمد آنذاك كلٌ من: أبو بكر، وأبو عبيدة بن الجراح، وعلي بن أبي طالب، وطلحة بن عبيد الله، والزبير بن العوام، وعمر بن الخطاب، والحارث بن الصمة، وأبو دجانة، وسعد بن أبي وقاص، وغيرهم. وشهد أبو بكر غزوة بني النضير سنة 4هـ، وغزوة بني المصطلق سنة 5هـ، وكانت معه فيها راية المهاجرين، وشهد غزوة الخندق سنة 5هـ، وغزوة بني قريظة سنة 5هـ، وكان فيهما مرافقاً للنبي محمد، كما شهد صلح الحديبية سنة 6هـ،وشهد غزوة خيبر سنة 7هـ، وكان أولَ قائد يرسله النبي محمد، كما شهد سرية نجد، وكان الأمير على المسلمين فيها، وكان الأمير على المسلمين في غزوة بني فزارة أيضاً، وكان أبو بكر من المسلمين الذين ذهبوا مع الرسول محمد ليعتمروا عمرة القضاء سنة 7هـ، كما شهد سرية ذات السلاسل سنة 8هـ ولما نقضت قريش صلح الحديبية، وتجهز النبي محمدٌ مع صحابته للخروج إلى مكة، خرج أبو سفيان بن حرب من مكة إلى الرسول محمد فقال: «يا محمد، اشدد العقد، وزدنا في المدة»، فقال النبي محمد: «ولذلك قدمت؟ هل كان من حدث قبلكم؟»، فقال: «معاذ الله، نحن على عهدنا وصلحنا يوم الدية لا نغيّر ولا نبدّل»، فخرج من عند النبي محمد يقصد مقابلة الصحابة، فطلب من أبي بكر أن يجدد العقد ويزيدهم في المدة، فقال أبو بكر: «جواري في جوار رسول الله ﷺ والله لو وجدت الذر تقاتلكم لأعنتها عليكم». ولما دخل النبيُّ محمدٌ مكة في عام الفتح سنة 8هـ، كان أبو بكر بجانبه، وقد تمت النعمة على أبي بكر في ذلك الوقت بإسلام أبيه أبي قحافة وشهد أبو بكر غزوة حنين سنة 8هـ، وكانت قد صبرت مع النبي فئةٌ من الصحابة يتقدمهم أبو بكر، ثم انتصروا بعد ذلك، كما شهد أبو بكر غزوة تبوك، ولما اختار الرسولُ الأمراء والقادة وعقد الألوية والرايات لهم، أعطى لواءه الأعظم لأبي بكر، وحث الرسولُ محمدٌ الصحابة في غزوة تبوك على الإنفاق، فأنفق كل حسب مقدرته، وكان عثمان بن عفان أكثر من أنفق في هذه الغزوة. وقد قال عمر بن الخطاب في ذلك: أمرَنا رسول الله ﷺ يوماً أن نتصدق، فوافق ذلك مالاً عندي، فقلت: «اليوم أسبق أبا بكر إن سبقته يوماً»، فجئت بنصف مالي، فقال رسول الله ﷺ «ما أبقيت لأهلك؟»، قلت: «مثله»، وأتى أبو بكر رضيَ الله عنه بكل ما عنده، فقال له رسول الله ﷺ «ما أبقيت لأهلك؟»، قال: «أبقيت لهم الله ورسوله»، قلت: «لا أسابقك إلى شيء أبداً» وفي سنة 9هـ، أرسل النبي محمد أبا بكر أميراً على الحج، فخرج أبو بكر أميراً بركب الحجيج، كما شهد أبو بكر حجة الوداع سنة 10 هجرى، ، سيرت ابن هشام غزواة ابوبکرالصدیق

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د سیرت مبارک (۱۲) برخه.

کله چې رسول الله ﷺ مریض شو د صفر د میاشتې اخیره وه دغه وخت کې رسول الله ﷺ اسامة ابن زید رضي الله عنه د نورو صحابه کرامو سره فلسطین ته د لیږلو امر وکړ، چې رومیانو سره غزا وکړي، خو صحابه کرام په دې وجه زړه نا زړه کیدل ځکه چې رسول الله ﷺ به یوه ورځ کې څو ځله له دردونو بې هوشه کیده، یوه ورځ رسول الله ﷺ خطبة وویله هغه خطبة کې وفرمایل: چې الله جل جلاله و خپل بنده ته اختیار ورکړی چې دنیا خوښوي که اخرت ته سفر کول، نو أبوبکر رضي الله عنه په ژړا شو زیات یې وژړل، نو ابو سعید الخدري رضي الله عنه فرمایي: مونږ د أبوبکر رضي الله عنه په ژړا تعجب کې شولو چې خطبة کې یو د خیر سړي ذکر شوی نو ابوبکر رضي الله عنه ولې ژاړي؟

لیکن أبوبکر رضي الله عنه زمونږ څخه زیات عالم ؤ هغه پوهیده، چې هغه بنده پخپله رسول الله ﷺ ؤ، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: ابوبکر رضي الله عنه یواځینی شخص دی چې هم ځان او هم مال زما څخه قربان کړی دی.

که چیرې ماته د خلیل یا دوست نیولو غیرله الله جل جلاله، اجازه وای ما به ابوبکر رضي الله عنه په دوستی نیولی وای لیکن مسلمانان ورونه دي.

بیا یې امر وکړ، چې مسجد طرف ته چې د هر صحابي رضي الله عنه دروازه راوتلې وي هغه دې بنده کړل شي فقط د ابوبکر رضي الله عنه د کور دروازه دې پریښودل شي.

أم المؤمنین عایشه رضي الله عنها فرمایي: کله چې ربیع الاول میاشت کې د رسول الله ﷺ حالت زیات خراب شو نو ماته یې وویل: چې پلار دې ابوبکر رضي الله عنه او ورور دې را وغواړه، چې یو لیک ورته لیکم ځکه چې بیا به هر څوک وایې چې زه د امامت زیات حقدار یم، بیا یې نور هم حالت خراب شو بیا یې وفرمایل: ابوبکر رضي الله عنه را وغواړه!

چې خلکو ته لمونځ ورکړي نو ما ورته وویل: هغه له زړه کمزوره دی ستا په ځای د دریدلو طاقت نه لري، عمر ابن الخطاب رضي الله عنه را وغواړه د هغه زړه قوي دی، خو رسول الله ﷺ بیا بیا راته ویل: چې ابوبکر رضي الله عنه را وغواړه، بیا چې بلال اذان وکړ؛ نو رسول الله ﷺ وفرمایل: ابوبکر رضي الله عنه ته ووایاست چې لمونځ وکړي، خلکو بیا ورته وویل: د هغه زړه کمزوره دی طاقت به ونه لري اخیر کې رسول الله ﷺ وویل: تاسو د یوسف علیه السلام د ورونو په شان یاست ابوبکر رضي الله عنه دې لمونځ وکړي، نو ابوبکر رضي الله عنه لمونځ ته وړاندې شو دغه وخت کې د رسول الله ﷺ وجود مبارک لږ په ارام شو، علي رضي الله عنه او عباس رضي الله عنه ته یې وویل: ما مسجد ته ورسوئ، هغوئ دواړه ترینه یو طرف او بل طرف ته شول د رسول الله ﷺ لاسونه مبارک یې په اوږو واچول پښې مبارکې یې له درده ځان پسې را کاږلې، کله چې مسجد ته داخل شو نو ابوبکر رضي الله عنه پوه شو هغه د وروسته کیدلو کوشش وکړ؛ خو رسول الله ﷺ ورته اشاره وکړه چې مه وروسته کیږه بیا رسول الله ﷺ د ابوبکر رضي الله عنه ښي خواته کښیناست او لمونځ یې پوره کړو.

کله چې د ربیع الاول یوولس ورځې پوره شوې؛ نو د سهار لمونځ ته ووت صحابه کرام زیات خوشحاله شول له لمونځ وروسته بیرته د عایشې رضي الله عنها کور ته راغی او د هغې په غیږ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې سر کیښود او دا الفاظ یې وویل: بلکې پورته د الله جل جلاله ملاقات مې خوښ دی او خپل روح یې الله جل جلاله ته وسپاره او رحلت یې وکړ•.
إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعونَ.

◊◊◊◊◊

## د أبوبکرصدیق رضي الله عنه د سیرت مبارک (۱۳) برخه.

## د ابوبکر رضي الله عنه د خلافت موضوع.

کله چې ابوبکر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په وفات خبر شوی راغی د رسول الله ﷺ مخ مبارک باندې څادر پروت ؤ هغه یې پورته کړ په مخ او تندي یې ښکل کړ، بیا یې وویل: زما مور او پلار در څخه قربان شه، الله جل جلاله دې در باندې رحم وکړي ژوند دې هم د خیر او برکتونو ډک ؤ وفات دې هم له خیر، برکت او حکمت ډک دی.

کله چې رسول الله ﷺ وفات شو نو د عمر ابن الخطاب رضي الله عنه دماغ له زیات خفګانه کار پریښود، توره یې په لاس کې واخسته مسجد کې ودرید او اعلان یې وکړ چې محمد ﷺ وفات شوی نه دی بیرته راځي که هر چا وویل چې وفات شوی دی نو لاسونه او پښې به یې غوڅ کړم، د عمر رضي الله عنه دغه خبر ابوبکر رضي الله عنه ته ورسید هغه په منډه مسجد نبوي ﷺ ته راغی، عمر ابن الخطاب رضي الله عنه ته یې وویل: کښینه بیا ممبر ته وخت او دا آیات یې تلاوت کړ.

وَمَا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ انقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىَ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ اللّهَ شَيْئًا وَسَيَجْزِي اللّهُ الشَّاكِرِينَ!

محمد ﷺ وفات شو که چا د محمد ﷺ عبادت کولو، نو هغه وفات شو او که چا د الله جل جلاله عبادت کول هغه نه مړ کیږي.

د آیات ژباړه: محمد ﷺ فقط رسول الله ﷺ ؤ له ده وړاندې نور انبیاء هم تیر شوي او وفات شوي دي، نو که چیرې رسول الله ﷺ وفات شي یا ووژل شي نو تاسو به بیا له اسلامه شاته کیږئ؟ هر هغه څوک چې له اسلامه شاته وګرځي الله جل جلاله ته هیڅ نقصان نه شي رسولای او شکر کوونکو ته به الله جل جلاله نیکه بدله ورکړي.

---

• ربيع الأول سنة 11 هـ، الموافق 8 يونيو سنة 632م وقد تمّ له ثلاث وستون سنة:
ابتدأ مرض النبي محمد الذي تُوفي فيه في أواخر شهر صفر سنة 11 هـ بعد أن أمر أسامة بن زيد بالمسير إلى أرض فلسطين، لمحاربة الروم، فاستبطأ الناسُ في الخروج لوجع النبي محمد ﷺ، وكان من شدّة وجعه أن كان يُغمى عليه في اليوم الواحد مرات عديدة. وفي أحد الأيام، خطب النبي محمد ﷺ الناس وقال: «إن الله خير عبداً بين الدنيا وبين ما عنده، فاختار ذلك العبد ما عند الله»، فبكى أبو بكرؓ، قال أبو سعيد الخدريؓ: فعجبنا لبكائه أن يخبر رسولُ الله ﷺ عن عبد خُيِّر، فكان رسولُ الله ﷺ هو المُخيَّر، وكان أبو بكر أعلمَنا، فقال رسول الله ﷺ «إن من أمن الناس علي في صحبته وماله أبا بكرؓ، ولو كنت متخذاً خليلاً غير ربي لاتخذت أبا بكرؓ، ولكن أخوة الإسلام ومودته، لا يبقين في المسجد باب إلا سد إلا باب أبي بكرؓ»، وقالت السيدة عائشةؓ: قال لي رسول الله ﷺ في مرضه: «ادعي لي أبا بكرؓ أباك، وأخاك، حتى أكتب كتاباً، فإني أخاف أن يتمنى متمن ويقول قائل: أنا أولى، ويأبى الله والمؤمنون إلا أبا بكرؓ» ولما ثقُل على النبي محمد ﷺ المرض، أمر أبا بكرؓ أن يصلي بالناس، قالت السيدة عائشةؓ: لما مرض النبيﷺ مرضه الذي مات فيه فحضرت الصلاة فأذن بلال، فقال: «مروا أبا بكرؓ فليصل بالناس»، فقيل له: «إن أبا بكرؓ رجل أسيف (أي رقيق القلب)، إذا قام مقامك لم يستطع أن يصلي بالناس»، وأعاد فأعادوا له فأعاد الثالثة، فقال: «إنكن صواحب يوسف، مروا أبا بكرؓ فليصل بالناس»، فخرج أبو بكرؓ، فوجد النبيُّﷺ في نفسه خفة، فخرج يهادى بين رَجُلين كأني أنظر إلى رجليه تخطان من الوجع، فأراد أبو بكرؓ أن يتأخر، فأومأ إليه النبيﷺ أن مكانك، ثم أتي به حتى جلس إلى جنبه، ولما كان يوم الاثنين الذي توفي فيه، بعد ثلاثة عشر يوماً على مرضه، خرج إلى الناس وهم يصلون الصبح ففرحوا به، ثم رجع فاضطجع في حجر عائشة بنت أبي بكرؓ، فتُوفي وهو يقول «بل الرفيق الأعلى من الجنة»، وكان ذلك ضحى يوم الاثنين ربيع الأول سنة 11 هـ، الموافق 8 يونيو سنة 632م وقد تمّ له ثلاث وستون سنة:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمـر ابـن الخطـاب رضـي الله عنـه فرمـايي: تـر دغـه وخـت پـورې زمـا دمـاغو کـار نـه کولـو کلـه چـې ابـوبکر رضـي الله عنـه دغـه پورتـه ايـات تـلاوت کـړ، مـا داسـې ګڼلـه چـې دغـه آيـات اوس نـازل شـو، ايلـه مـې اوس دماغو کار ور باندې وکړ، الله جل جلاله مونږ ته له وړاندې خبر را کړی ؤ.

د رسـول الله ﷺ د وفـات خبـر سـره سـم ۱۲ ربيـع الاول 11 هجـري ق بانـدې انصـار سـقيفه بنـي سـاعده ځـای کـې سـره را غونـډ شـول هغـوئ فکـر کولـو، چـې مهـاجرين خـو لـږ دي نـو خليفـه بايـد د دوئ څخـه وټاکـل شـي، بحث يې وکړ، بيا يې د خزرج د قوم مشر سعد بن عباده ته اشاره وکړه چې ته بايد خليفه شې.

دغـه وخـت کـې مهـاجرين ټـول مسـجد نبـوی ﷺ کـې د خلافـت د موضـوع لـه پـاره را ټـول شـوي وه هغـوئ فيصـله وکـړه چـې مـونږ بايـد انصـار وروڼـه اعتمـاد کـې واخلـو او هلتـه ورشـو نـو پـه همـدې نيـت راووتـل، د عمـر ابـن الخطـاب رضـي الله عنـه څخـه روايـت دی: چـې مـا وويـل راځـئ چـې انصـارو تـه ورشـو نـو لاره کـې يـو صـحابي مخـې تـه راغـی هغـه وويـل: مهـاجرو وروڼـو چيـرې روان ياسـت؟ مـونږ ورتـه وويـل: انصـارو تـه ورځـو ! هغـه وويـل: مـه ورځـئ او خپـل کـار خـلاص کـړئ خليفـه وټـاکئ هغـوئ سـره را غونـډ دي خپـل مشـر ټـاکي تاسـو بيـړه وکـړئ؛ نـو مـا ورتـه وويـل: قسـم دی چـې خامخـا بـه ورځـو بيـا مـې يـو څـو نرمـې او خـوږې خبرې ځان سره جوړې کړلې چې په دغه خبرو به انصار راضي کړم.

کلـه چـې انصـارو تـه ور ورسـيدلو نـو يـو تـن کـټ کـې پـروت ؤ سـخت مـريض ؤ مـونږ پوښـتنه وکـړه چـې دا څـوک دی؟ هغـوئ وويـل: دا سـعد بـن عبـاده رضـي الله عنـه دی بيـا مـونږ کښيناسـتلو د انصـارو يـو نفـر خبـرې کـولې هغـه وويـل: مـونږ د خلافـت زيـات مسـتحق يـؤ کـه مهـاجرين وروڼـه مـونږ تـرې محرومـوي نـو ظلـم بـه وي مـونږ ډيـر يـؤ، عمـر رضـي الله عنـه فرمـايي: مـا غوښـتل پورتـه شـم خـو ابـوبکر رضـي الله عنـه راتـه اشاره وکړه چې کښينه.

بيـا ابـوبکر رضـي الله عنـه پورتـه شـو هغـه خبـرې شـروع کـړې د ابـوبکر رضـي الله عنـه خبـرې ټـولې زمـا د زړه خبـرې وې او نـورې زيـاتې هـم خـوږې او نرمـې او پـه حقيقـت بنـاء وې، نـو بيـا ابـوبکر رضـي الله عنـه وفرمايـل: چـې لـه عمـر رضـي الله عنـه او ابوعبيـده ابـن الجـراح ورکسـان نـه ويـنم بيـا يـې زمـونږ دواړو لاسـونه ونيـول او مـا غوښـتل کـه چـا غيرلـه ابـوبکر رضـي الله عنـه بـل څـوک خـوښ کـړ، سـر بـه تـرې غـوڅ کـړم دغـه وخـت کـې اوازونـه اوچـت شـول انصـارو وويـل: يـو تـن لـه انصـارو او يـو تـن لـه مهـاجرينو بايـد وټاکـل شي.

نـو عمـر رضـي الله عنـه فرمـايي: مـا د ابـوبکر رضـي الله عنـه لاس ونيولـو، چـې زمـا بيعـت لـه تـا سـره دی بـل څـوک نـه مـنم بيـا نـورو مهـاجرينو هـم ور سـره بيعـت وکـړ؛ تـر هغـه چـې انصـارو هـم بيعـت تـه زړه ښـه کـړ، بـل روايـت کـې ذکـر شـوي دي چـې عمـر ابـن الخطـاب رضـي الله عنـه انصـارو تـه وويـل: وروڼـو ايـا رسـول الله ﷺ د لمـونځ د امامـت لـه پـاره ابـوبکر رضـي الله عنـه غـوره کـړی نـه ؤ؟ ايـا تاسـو کـې د امامـت لـه پـاره څـوک لـه ابـوبکر رضـي الله عنـه ور شـخص ؤ؟ اوس څنګـه لـه ابـوبکر رضـي الله عنـه سـرغړونه کـوئ؟ نـو هغـوئ ټولـو وويـل: نعوذبـالله لـه ابـوبکر رضـي الله عنـه غـوره شـخص نـه لـرو بيـا ټولـو بيعـت وکـړ اول مهـاجرينو بيـا انصارو[13].

---

[13] فلمـا تـوفي قـام عمـر بـن الخطـاب، فقـال «والله مـا مـات رسـول الله ﷺ وليبعثنـه الله فلـيقطعنّ أيـدي رجـال وأرجلهـم»، وجـاء أبـو بكـر ؓ مسـرعاً فكشـف عـن وجهـه وقبّلـه، وقـال «بـأبي أنـت وأمّـي، طبـتَ حيـاً وميتـاً»، ثـم خـرج وخطـب بالنّـاس قـائلاً: فقـال أبـو بكـر الصـديق ؓ ألا مـن كـان يعبـد محمـداً ﷺ، فـإنّ محمـداً قـد مـات، ومـن كـان يعبـد الله فـإن الله حـيّ لا يمـوت، وقـرأ آيـة، وَمَـا مُحَمَّـدٌ إِلاَّ رَسُـولٌ قَـدْ خَلَـتْ مِـن قَبْلِـهِ الرُّسُـلُ أَفَـإِن مَّـاتَ أَوْ قُتِـلَ انقَلَبْـتُمْ عَلَـى أَعْقَـابِكُمْ وَمَـن يَنقَلِـبْ عَلَـىَ عَقِبَيْـهِ فَلَـن يَضُـرَّ اللّـهَ شَـيْئًا وَسَـيَجْزِي اللّـهُ الشَّـاكِرِينَ ،: لمـا علـم الصـحابة بوفـاة الرسـول

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د أبوبکر صدیق رضي الله عنه د سیرت مبارک (۱۴) برخه.

☚ یو روایت داسې دی: چې ابوبکر رضي الله عنه د بیعت څخه وروسته ممبر ته وخت ټول هغه فضایل یې بیان کړل چې د انصارو په باره کې رسول الله ﷺ ویلي وه یا یې ذکر کړي وو، بیا ابوبکر رضي الله عنه وفرمایل: چې تاسو خو موجود واست چې رسول الله ﷺ وفرمایل: که چیرې ټول خلک یوې وادئ یا درې ته ننوځي او فقط انصار بلې ته ننوځي نو زه به د خلکو زیاتوالې ته ونه ګورم او د انصارو سره به ولاړ شم او انصار به خوښ کړم.

بیا ابوبکر رضي الله عنه وفرمایل: یا سعد بن عباده رضي الله عنه ته خو ناست وې چې رسول الله ﷺ وفرمایل: چې قریش د دین له پاره امیران دي او نور خلک یې معاونین دي او نیک خلک یې نیکانو پسې ځي او بد خلک یا فاجران یې بد عملو پسې روان دي؟

نو سعد بن عباده رضي الله عنه وفرمایل: تا ربښتیا وویل تاسو امیران یاست او مونږ مو وزیران یو هیڅ مخالفت به ونه کړو.

بیا ابوبکر رضي الله عنه یو ښایسته خطبه وویله او د خلافت څخه یې عذر وکړ، چې ما مه خلیفه کوئ، قسم په الله جل جلاله چې یوه شپه یا ورځ مې هم دا فکر نه دی کړی چې زه خلیفه دې شم خو تاسو دغه لوی درونډ بار را باندې واچولو او نه مې کله د الله جل جلاله څخه پټ یا ښکاره سوال کړی دی چې ماته خلافت یا مشري را کړه، ما خو تاسو ته وړ دوه کسان وښودل چې باید یو له دوئ څخه خلیفه کړئ (یو عمر ابن الخطاب رضي الله عنه او بل ابو عبیده ابن الجراح رضي الله عنهم ) دوئ کې یو امیر وای او زه به یې وزیر وای.

بیا یې وفرمایل: اوس هم درته وایم یو تن مشر کړئ زه به د عام شخص په حیث ور سره همکاري کوم، بیا یو نفر پورته شو هغه وویل: ته د رسول الله ﷺ سره غار ثور کې دوهم نفر وې چې قرآن کې ذکر شوی دی مونږ در باندې راضي یو ، هیڅوک مخالفت نه کوي،

یو ځل بیا ابوبکر رضي الله عنه وفرمایل: أي خلکو که چیرې چا له ویرې یا شرم بیعت را سره کړی وي پورته شئ زه به له خلافت استعفاء وکړم؟

بیا علي رضي الله عنه پورته شو توره یې له تیکې را ویستله وړاندې روان شو تر هغه چې ممبر ته ورسید یوه پښه یې ممبر باندې کیښودله بله پښه لاندې وه توره یې وځلوله بیا یې وویل: قسم په الله جل جلاله چې نه دي څوک استعفاء ومني او نه به ته استعفاء وکړې ځکه تاسو رسول الله ﷺ په خپل

---

محمد ﷺ، اجتمع الأنصار في سقيفة بني ساعدة في اليوم نفسه، وهو يوم الاثنين ۱۲ ربیع الأول سنة 11هـ، وتداولوا الأمر بينهم في اختيار من يلي الخلافة من بعده، والتف الأنصار حول زعيم الخزرج سعد بن عبادةؓ، ولما بلغ خبرُ اجتماع الأنصار في سقيفة بني ساعدة إلى المهاجرين، وهم مجتمعون مع أبي بكرؓ لترشيح من يتولى الخلافة، قال المهاجرون لبعضهم: انطلقوا بنا إلى إخواننا من الأنصار، فإن لهم في هذا الحق نصيباً، قال عمر بن الخطابؓ: فانطلقنا نريدهم، فلما دنونا منهم لقينا منهم رجلين صالحين، فذكرا ما تمالأ عليه القوم، فقالا: «أين تريدون يا معشر المهاجرين؟» قلنا: «نريد إخواننا هؤلاء من الأنصار»، فقالا: «لا عليكم أن لا تقربوهم، اقضوا أمركم»، فقلت: «والله لنأتينهم»، فانطلقنا حتى أتيناهم في سقيفة بني ساعدة، فإذا رجل مزمل بين ظهرانيهم، فقلت: «من هذا؟»، فقالوا: «هذا سعد بن عبادةؓ»، فقلت: «ما له؟»، قالوا: «يوعك»، فلما جلسنا قليلاً تشهد خطيبهم فأثنى على الله بما هو أهله، ثم قال: «أما بعد، فنحن أنصار الله وكتيبة الإسلام، وأنتم معشرَ المهاجرين رهط، وقد دفت دافة من قومكم (أي عدد قليل)، فإذاً هم يريدون أن يختزلونا من أصلنا وأن يحضنونا من الأمر (أي يخرجونا من أمر الخلافة)»، فلما سكت أردت أن أتكلم، وكنت قد زورت مقالة أعجبتني أريد أن أقدمها بين يدي أبي بكرؓ، وكنت أداري منه بعض الحد، فلما أردت أن أتكلم قال أبو بكرؓ: «على رسلك»، فكرهت أن أغضبه، فتكلم أبو بكرؓ، فكان هو أحلم مني وأوقر، والله ما ترك من كلمة أعجبتني في تزويري إلا قال في بديهته مثلها أو أفضل منها حتى سكت، فقال: «ما ذكرتم فيكم من خير فأنتم له أهل، ولن يُعرف هذا الأمر إلا لهذا الحي من قريش، هم أوسط العرب نسباً وداراً، وقد رضيت لكم هذين الرجلين فبايعوا أيهما شئتم»، فأخذ بيدي ويد أبي عبيدة بن الجراحؓ وهو جالس بيننا، فلم أكره مما قال غيرها، والله أن أقدّم فتُضرب عنقي لا يقربني ذلک من إثم أحب إلي من أن أتأمر على قوم فيهم أبو بكرؓ، اللهم إلا أن تسول إلي نفسي عند الموت شيئاً لا أجده الآن. فقال قائل من الأنصار: «أنا جذيلها المحكك، وعذيقها المرجب، منا أمير ومنكم أمير يا معشر قريش»، فكثر اللغط، وارتفعت الأصوات، حتى فرقت من الاختلاف فقلت (لأبي بكرؓ): «ابسط يدک»، فبايعته وبايعه المهاجرون، ثم بايعته الأنصار. وفي رواية أخرى قال عمر: «يا معشر الأنصار، ألستم تعلمون أن رسول الله ﷺ قد أمر أبا بكرؓ أن يؤم الناس، فأيكم تطيب نفسه أن يتقدم أبا بكر رضيَ الله عنه؟» فقالت الأنصار: «نعوذ بالله أن نتقدم أبا بكرؓ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند د لمونځ له پاره وړاندې کړې یا ست چې د اسلام دوهم رکن دی نو څوک به وي چې تاسو نورو کارونو کې وروسته کړي؟ نو هم هغه ؤ چې بې له کوم اختلاف په یو اتفاق خلیفه وټاکل شو[14].

◊◊◊◊◊

## د أبوبکر صدیق رضي الله عنه د سیرت مبارک (۱۵) برخه.

### د ارتداد مهمه برخه

11 هجري شمسي او ۱۲ هجري شمسي، او مرتدینو سره د ابوبکر رضي الله عنه سخت مقاومت.

کله چې ابوبکر رضي الله عنه خلیفه شو مدینه منوره، مکه مکرمه او طایف په امن کې پاتې شول نورو اکثرو قبایلو کې مرتدین پیدا شول لکه اسود العنسي، مسیلمة الکذاب، طلیحه بن خویلد الاسدي، شجاع بنت الحارث التمیمیه، ذو التاج بن مالک الازدي.

بعضو فقط لمونځ منلی وو، د زکاة څخه یې انکار کولو زکاة یې تاوان ګڼلی وو او زیاتو خلکو د نبوت درواغجنه دعوه وکړه چې مقابل کې یې ابوبکر رضي الله عنه تکړه صحابه کرام رضي الله عنهم (لکه عمر ابن الخطاب رضي الله عنه، علي بن ابي طالب رضي الله عنه، خالد ابن الولید رضي الله عنه، عکرمة بن ابي جهل، عمرو بن العاص رضي الله عنه، شرحبیل بن الحسنه رضي الله عنه، المهاجربن ابي امیه رضي الله عنه، خالد بن سعید بن ابي العاص رضي الله عنه، عرفجه بن هرثمه رضي الله عنه، حذیفه بن محصن الغلفاني رضي الله عنه، طریف بن حاجز رضي الله عنه، سوید بن مقرن رضي الله عنه، العلاء بن الخضرمي رضي الله عنه) د مجاهدینو عمومي سرلښکر وټاکل شول او بیل بیل یې مختلفو سیمو ته ولیږل شول، اکثره مرتدینو په الله جل جلاله عقیده لرله بیرته د بتانو عبادت ته قانع نه وه، خو د اسلام بعضي احکام یې نه منل، یو تر بل یې ضد او عناد شروع پخوانۍ دښمنیانې یې تازه کړې، نو خالد ابن الولید رضي الله عنه او نورو صحابه کرامو د مرتدینو سره په میړانه جهاد وکړ، تر هغې چې زیاتو بیرته اسلام ومنلو او بعضي ووژل شول او عربي جزیره د مرتدینو او مشرکینو پاکه شوه، بیا د ابوبکر رضي الله عنه سوچ د عراق، شام، فارس، او بیزنطینو طرف ته شو او هغه طرف ته یې مجاهدین لیږل شروع کړل، خو د غه جنګونو کې زیات د قرآن کریم

---

[14] فلما توفي قام عمر بن الخطاب، فقال «والله ما مات رسول الله ﷺ وليبعثنه الله فليقطعنّ أيدي رجال وأرجلهم»، وجاء أبو بكرؓ مسرعاً فكشف عن وجهه وقبّله، وقال «بأبي أنت وأمّي، طبتَ حياً وميتاً»، ثم خرج وخطب بالنّاس قائلاً، فقال أبو بكر الصديقؓ ألا من كان يعبد محمداً ﷺ، فإنّ محمداً قد مات، ومن كان يعبد الله فإن الله حيّ لا يموت، وقرأ آية، وَمَا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ انقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىَ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ اللّهَ شَيْئًا وَسَيَجْزِي اللّهُ الشَّاكِرِينَ :. لما علم الصحابة بوفاة الرسول محمد ﷺ، اجتمع الأنصار في سقيفة بني ساعدة في اليوم نفسه، وهو يوم الاثنين ۱۲ ربيع الأول سنة 11هـ، وتداولوا الأمر بينهم في اختيار من يلي الخلافة من بعده، والتف الأنصار حول زعيم الخزرج سعد بن عبادةؓ، ولما بلغ خبرُ اجتماع الأنصار في سقيفة بني ساعدة إلى المهاجرين، وهم مجتمعون مع أبي بكرؓ لترشيح من يتولى الخلافة، قال المهاجرون لبعضهم: انطلقوا بنا إلى إخواننا من الأنصار، فإن لهم في هذا الحق نصيباً. قال عمر بن الخطابؓ: فانطلقنا نريدهم، فلما دنونا منهم لقينا منهم رجلين صالحين، فذكر ما تمالأ عليه القوم، فقالا: «أين تريدون يا معشر المهاجرين؟» قلنا: «نريد إخواننا هؤلاء من الأنصار»، فقالا: «لا عليكم أن لا تقربوهم، اقضوا أمركم»، فقلت: «والله لنأتينهم»، فانطلقنا حتى أتيناهم في سقيفة بني ساعدة، فإذا رجل مزمل بين ظهرانيهم، فقلت: «من هذا؟»، فقالوا: «هذا سعد بن عبادةؓ»، فقلت: «ما له؟»، قالوا: «يوعك»، فلما جلسنا قليلاً تشهد خطيبهم فأثنى على الله بما هو أهله، ثم قال: «أما بعد، فنحن أنصار الله وكتيبة الإسلام، وأنتم معشرَ المهاجرين رهط، وقد دفت دافة من قومكم (أي عدد قليل)، فإذاً هم يريدون أن يختزلونا من أصلنا وأن يحضنونا من الأمر (أي يخرجونا من أمر الخلافة)»، فلما سكت أردت أن أتكلم، وكنت قد زورت مقالة أعجبتني أريد أن أقدمها بين يدي أبي بكرؓ، وكنت أداري منه بعض الحد، فلما أردت أن أتكلم قال أبو بكرؓ: «على رسلك»، فكرهت أن أغضبه، فتكلم أبو بكرؓ، فكان هو أحلم مني وأوقر، والله ما ترك من كلمة أعجبتني في تزويري إلا قال في بديهته مثلها أو أفضل منها حتى سكت، فقال: «ما ذكرتم فيكم من خير فأنتم له أهل، ولن يُعرف هذا الأمر إلا لهذا الحي من قريش، هم أوسط العرب نسباً وداراً، وقد رضيت لكم هذين الرجلين فبايعوا أيهما شئتم»، فأخذ بيدي وبيد أبي عبيدة بن الجراحؓ وهو جالس بيننا، فلم أكره مما قال غيرها، والله أن أقدّم فتُضرب عنقي لا يقربني ذلك من إثم أحب إلي من أن أتأمر على قوم فيهم أبو بكرؓ، اللهم إلا أن تسول إلي نفسي عند الموت شيئاً لا أجده الآن، فقال قائل من الأنصار: «أنا جذيلها المحكك، وعذيقها المرجب، منا أمير ومنكم أمير يا معشر قريش»، فكثر اللغط، وارتفعت الأصوات، حتى فرقت من الاختلاف فقلت (لأبي بكرؓ): «ابسط يدك»، فبايعته وبايعه المهاجرون، ثم بايعته الأنصار. وفي رواية أخرى قال عمر: «يا معشر الأنصار، ألستم تعلمون أن رسول الله ﷺ قد أمر أبا بكرؓ أن يؤم الناس، فأيكم تطيب نفسه أن يتقدم أبا بكر رضيَ الله عنه؟» فقالت الأنصار: «نعوذ بالله أن نتقدم أبا بكرؓ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



حافظان شهیدان شول، نو ځکه عمر ابن الخطاب رضي الله عنه، ابوبکر رضي الله عنه ته وویل: مونږ باید قرآن کریم را جمع کړو او ترتیب یې کړو کنه نو دغسې به صحابه کرام شهیدان کیږي او بیا به د قرآن کریم په ترتیب کې زیات مشکل شي.

☚ ابوبکر رضي الله عنه فرمایي: ماته عمر رضي الله عنه دغه خبرې کولې او ما ورته ویل: چې کوم کار رسول الله ﷺ نه دی کړی زه یې څنګه وکړم؟ خو عمر رضي الله عنه ټینګار کولو تر هغه چې الله جل جلاله زما سینه فراخه کړه او زید بن حارثة رضي الله عنه ته مې وظیفه ورکړه او هغه دا کار شروع کړ.

زید بن حارثة رضي الله عنه به حافظان را غونډول د هغوئ تلاوت به یې اوریدلو بیا به یې لیکلو تر هغه چې ولیکل شو، بیا د عمر رضي الله عنه په وخت کې نور هم ترتیب شو او دغه د خیر کار سرته ورسید••.

◊◊◊◊◊

## د ابوبکرصدیق رضي الله عنه د سیرت مبارک (۱۶) برخه

**حروب الردۀ یا د مرتدینو په ضد جهاد.**

د (مسیلمة الکذاب لعنة الله علیه) د نبوت دعوه او په یمامه علاقه کې د هغه وژل.

د ارتداد موضوع.

کله چې رسول الله ﷺ وفات شو نو یو د منافقانو، مرتدینو او کافرانو شورشونه شروع شول.

بعضې خلک چې مسلمانان شوي وه، خو لا یې ایمانونه مضبوط شوي نه وه د وفات د خبر په اوریدلو بیرته له اسلامه وګرځیدل بعضو له اسلامه انکار نه کاوه خو زکات یې نه منلو نو تر ټولو اول ابوبکر رضي الله عنه اعلان وکړ، چې د مرتدینو وژل زما اولنی فرض دی او دوه واړي یې د بني عبس بني مرة ذبیان او نورو په ضد جنګونه وکړل خو، شورشونه دومره زیات وه چې ښځو هم د نبوت دعوې وکړې او نارینه ؤ هم،

منافقینو هر ځای لکه اوسني نشراتي شبکو ښه په زور تبلیغات کول اخیر کې ټولو صحابه کرامو له ابوبکر رضي الله عنه وغوښتل چې ته به نور له مدینې نه بهر نه ځې ځکه چې مدینه منوره د اسلام مرکز دی که دا زمونږ له لاسه ووتله نو اسلام ته به سخته ضربه ورسیږي، اخیر ابوبکر رضي الله عنه

•• وهذا يعني أنّ الرِدّة لا يعدو كونها مُجرّد حركةٍ سياسيّةٍ تعتمدُ على العصبيّات القبليّة، ممّا يُمثّلُ عودةً إلى نظام القبيلة وإلى استرجاع مُلكٍ أو سُلطانٍ فقده البعض، وقد اتخذت هذه الحركة قناعًا زائفًا من الدين لِتستقل عن سُلطة المدينة المُنوّرة، فكان لا بُدّ من الصِدام المُسلح العنيف بينها وبين الإسلام، وعلى هذا الأساس كانت حُرُوبُ الرِدّة دعوةً صريحةً للجهاد في سبيل الله، وقد حمل أبو بكر لواء الجهاد ضدّ القبائل الانفصاليّة ومُدعي النُبوّة، فجهّز الألوية العسكريّة وسلّم قيادتها إلى عددٍ من القادة المُسلمين أمثال خالد بن الوليد وعمرو بن العاص وعكرمة بن أبي جهل، وسيّرهم إلى معاقل تلك القبائل حيثُ قاتلوهم بضراوةٍ شديدةٍ وقضوا على حركاتهم، فعاد أغلب زُعمائهم ومشايخهم إلى الدُخول في الإسلام، وقُتل بعضهم الآخر في أرض المعركة. وبانتهاء حُرُوبِ الرِدّة، توحّدت كامل شبه الجزيرة العربيّة تحت راية الإسلام، وأصبح بإمكان المُسلمين أن يُركزوا على التوسُّع خارجًا في الشّام والعراق على حساب الروم البيزنطيين والفُرس الساسانيين. كذلك، كان من نتيجة هذه الحُرُوب أن أمر أبي بكرٍ الصدّيق بجمع القُرآن لِأوّل مرّة وفق عامّة الروايات عند أهل السُنّة والجماعة، وذلك بعد أن استشار عُمر بن الخطّاب، وأن الذي قام بهذا الجمع زيد بن ثابت، أمّا سبب قرار جمع القُرآن بين دفّتي كتاب فكان كثرة من قُتل من الصحابة من حفظة القُرآن في المعارك التي دارت مع القبائل المُرتدّة. وفي هذا المجال وهكذا، أخذ زيد يتتبع القُرآن من العسب واللخاف وصدور الرجال فجمع القرآن كله في مُصحف، فكانت هذه الصُحف عند أبي بكرٍ الصديق حتى تُوفي ثم عند عُمر حتّى مات ثم عند حفصة بنت عمر. حُرُوْبُ الرِدّةِ هي سلسلةٌ من الحملات العسكريّة التي شنّها المُسلمون على القبائل العربيّة التي ارتدّت عن الإسلام بعد وفاة الرسول مُحمّد، خِلال الفترة المُمتدّة بين سنتيّ 11هـ و١٢هـ، المُوافقة لسنتيّ ٦٣2م و633م.[1] وقد ارتدّ العرب في كُلِّ قبيلة، باستثناء أهالي مكّة والمدينة المُنوّرة والطائف والقبائل التي جاورتها، وقد وُصفت هذه الحركات من الناحية السياسيّة بأنّها حركاتٌ انفصاليّة عن دولة المدينة المُنوّرة التي أسّسها الرسول مُحمّد وعن قُريش التي تسلّمت زعامة هذه الدولة بِمُبايعة أبي بكرٍ الصدّيق بخلافة المُسلمين. وهي عودةٌ حقيقيّةٌ إلى النظام القبلي الذي كان سائدًا في الجاهليّة، وقد اتسمت من ناحية بالاكتفاء من الإسلام بالصلاة، والتخلُص من الزكاة التي اعتبرتها هذه القبائل إتاوة يجب إلغاؤها. في حين اتسمت من ناحيةٍ ثانية بالارتداد كُليًا عن الإسلام كنظامٍ سياسيّ، وليس إلى الوثنيّة التي ولت إلى غير رجعة، والالتفاف حول عددٍ من مُدعي النُبوّة بدافعٍ من العصبيّة القبليّة ومُنافسة قُريش حول زعامة العرب. فتوح الشام جلدٌ څلورم باب حروب الرده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور سره ومنله خو ابوبکر رضي الله عنه سره دا تشویش ؤ چې د دنیا ټولو کفارو او منافقینو ځپل به څوک وکړي؟ د اسلام لوی دښمن چې پوره طاقت او قوت لري او د نبوت دعوه یې کړې مسیلمة الکذاب به څوک وځپي، نو اخیر یې خالد بن ولید رضي الله عنه را وغوښت او ورته یې وویل: تا ته خو معلومه ده چې تاسو ټول زما په بهر ته تللو راضي نه یاست نو زه غواړم چې تا د دغې مرتدینو او د دروا غو د نبوت دعوه کوونکو د ځپلو له پاره امیر وټاکم!

نو خالد بن ولید رضي الله عنه ورته وویل: زه حاضر یم تر څو چې مې بدن کې ساه وي زه د دین له پاره قربانۍ ته تیار یم، نو بیا ابوبکر رضي الله عنه ټول صحابه کرام را وغوښتل او اعلان یې ورته وکړ چې زه خالد بن ولید رضي الله عنه په تاسو امیر ټاکل غواړم ستاسو خوښه ده او که نه؟ نو ټولو وویل: مونږ ور باندې خوښ یو بیا ابوبکر رضي الله عنه خالد بن ولید رضي الله عنه ځان له کړ او ورته یې وویل: زه تا ته د تقوی وصیت کوم او ته مې په هغو جلیل القدره صحابه کرامو امیر کړلې چې ستا نه یې فضلیت زیات دې لکه (عمر رضي الله عنه، عثمان رضي الله عنه او علي رضي الله عنه) او نور اهل بدر او احد او بیعت الرضوان والا.

نو ته د هغوئ مشورې آوره او دا چې ته به اول مرتدینو ته د اسلام دعوت ورکوې که اسلام ته راوګرځیدل نو نه به یې ژنې او که په ارتداد قایم پاتې شول نو ټول ووژنه:

ښځو، ماشومانو او ضعیفانو سره نرمي کوه د دوئ مالونو ته نقصان مه رسوه،
او بیا خالد بن ولید رضي الله عنه مجاهدین تیار کړل او ورته یې وویل: د الله ﷻ په کومک راځئ راسره.

نو خالد بن ولید رضي الله عنه هر قوم او قبیله کلي او کور له مخې را ونیول چې هر ځای به یې مرتد لیدو، نو که اسلام ته به بیرته نه راګرځیدل نو وژلو به یې تر هغه چې (یمامه) ځای ته ورسیدل، دغه قومونه کلي او ښارونه زیات د [مسیلمة الکذاب] په نبوت قانع شوي وه او [مسیلمة الکذاب] د مسلمانانو په ضد داسې لښکر تیار کړی ؤ چې هیڅ شمار یې نه شي کیدلای نو [خالد بن ولید رضي الله عنه] خپل مجاهدین د یوې غونډۍ په سر دیره کړل او له هغې غونډۍ چې ډیر لوړ ځای کې وه د ښار ټولې برخې ترې ښکاره کیدلې، نو کله چې خالد بن ولید رضي الله عنه له هغه ځایه وکتل نو یو داسې لښکر ترې را ووت، چې هیڅ په خلاصیدو نه ؤ څومره چې سترګو نظر کاوه نو بس لښکر لښکر به په نظر راتللو، نو خالد بن ولید رضي الله عنه ته د خپل لښکر او مجاهدینو کمزورتیا معلومه شوه ځکه چې ډیر نوي مسلمانان شوي ځوانان هم پکې وو، چې شاید ټینګ شوي نه وای، نو خالد بن ولید رضي الله عنه اواز وکړ، چې یا انصارو ماته راشئ بیا یې اواز وکړ ای: مهاجرینو ماته راشئ نو ټول ورته راغلل نو خالد بن ولید رضي الله عنه ورته وویل: د مسیلمة الکذاب لښکر ډیر زیات دی مونږ ور سره مقابله نه شو کولای ځکه چې په لکونو دي خو زه یو کار کوم تاسو به را سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومک کوئ زه مسیلمة الکذاب ته د اسلام دعوت ورکوم که هغه مسلمان شو خو ښه ده او که انکار یې وکړ بیا ورته د مقابلې دعوت ورکوم که زه الله ﷻ ور باندې کامیاب کړم نو تاسو بیا د دوئ په لښکر یرغل وکړئ نو د الله ﷻ په فضل به شکست وخوري.

نو کله چې دواړه لښکرې سره مخامخ شوې نو خالد بن ولید رضي الله عنه مسیلمة الکذاب ته اواز وکړ، چې مسلمان شه او ملګرو ته دې هم ووایه چې مسلمانان شي ته نه نبي یې او نه رسول او ته په دې ښه پوهیږې چې دروغجن یې نو له دې دروغجنې دعوې لاس په سر شه، هغه انکار وکړ او ویې ویل: زه نبي یم بیا خالد بن ولید رضي الله عنه د مسیلمة الکذاب لښکر ته دعوت ورکړ هغوئ هم انکار وکړ، نو خالد بن ولید رضي الله عنه مسیلمة الکذاب ته وویل: نو راځه اول ما او تا زور و ازمایئ نو مسیلمة الکذاب په ډیر مغرورانه انداز ورته وویل: راشه چې مور در باندې بوره او ښځه دې کونډه کړم او بچي درباندې وژړوم.

نو خالد بن ولید رضي الله عنه آس ور وځغلولو دواړو یوه ورځ پوره مقابله وکړه اخیر د الله ﷻ توریې ته برابر شو خالد بن ولید رضي الله عنه سخت ووهلو، خو د (وحشيؓ) زړه طاقت ونه کړ هغه هم ورغی او اخیر کې یې ووژلو او دې سخته معرکه کې نورو مجاهدینو د مرتدینو په لښکر یرغل وکړ داسې به مړه کیدل لکه تاروګان چې لاس دې نه وي ور وړی او له حرکته وغورځیږي تر هغې چې د مجاهدینو آسونو د ډیرو مړو په وجه نه شو کولای چې مخې ته ولاړ شي او باقي مرتدین زیات ګرفتار او نور په تیښته کامیاب شول او مجاهدینو ته بې شماره غنیمتونه په لاس ورغلل.

نو د یمامه جنګ او د مسیلمة الکذاب په وژلو اکثره هغه نورې ښځې او نارینه چې د نبوت دعوه یې کړې وه ورک شول او الله ﷻ یو ځل بیا د اسلام بیرغ اوچت کړ[•].

په رتلونکې نشریه کې د عمر فاروق رضي الله عنه سیرت له یاده مه باسئ.

◊◊◊◊◊

• البدایة والنهایة لحافظ ابن کثیر ج7 ص 114: 113.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**